د پښتو ژبې لنډ ګرامر

(صرف – نحوه)

محقق سید محی الدین هاشمی

د پښتو ژبې لنډ کرامر

(صرف – نحوه)

محقق سید محی الدین هاشمي

۱۳۸۳ هـ. ش/ ۲۰۰۴ م کال

کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : د پښتو ژبې لنډ ګرامر

لیکوال : محقق سید محی الدین هاشمي

دپښتي تذهیب او انځور : د استاد ازهر هروي اثر (دهمکاری اداری د پښکلیو هنرونو ګالري)

خپرونکی : د اریك د ګرځنده کتابتونونو اداره

پرله پسې نومره : ۱۳۲

لومړی چاپ : ۱۳۸۳ لمریز کال، د خپروونکي له خوا، پېښور

چاپ شمېر : ۷۰۰ توکه

دمخونو شمېر : ۱۰۰

کچه : ۲۱×۱۳.۵ سانتي متر

د خپرونکي پته : کور نمبر B-5، ګل مهر روډ،
پوسټ بکس ۱۰۸۴ یونیورسټي ټاون پېښور
ټیلفون: ۵۷۰۴۳۹۲، ۵۷۰۱۷۲۹، ۵۷۰۲۵۳۱
فکس: ۰۹۱ ۸۴۰۴۷۱ بریښنا لیك: aric@brain.net.pk

چاپ ځای : الازهر خپرندویه موسسه، ټیلفون: ۰۹۱ ۲۵۶۴۴۱۴

د ویش او پلورنې ځای : د اکبر دفتر (د افغانانو لپاره د مرستو د انسجام اداره)

دکتاب له مطالبو څخه اقتباس دمأخذ په ښودلو سره جایز دی

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

داکبر داطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز(اریك) له اتو کالو راهیسې دافغانستان ولایتونوته دګرځنده کتابتونونو پرو ګرام تر لاس لاندې نیولی دی. ګرځنده کتابنونونه چې د فلزي صندوقونوپه بڼه جوړ شوي دي، په یوه خاص ځای کې اېښودل کېږي،د سیمې خلك ورځخه امانت کتابونه وړي.لولي یې او خپلو شاو خوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لېږدول کېږ ي او یا پرې یو شمېر نور نوي کتابونه ورزیات او په هماغه ځای کې پاتې کېږي.

موږ داهڅه کړې ده چې د ګر ځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه را ټول کړو چې د لیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او ... مسایلو کې مرسته و کړي.

موږ د ګر ځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم تر سره کووچې خلك څه ډول آثارو او موادو ته اړ تیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو دمطالعې هیله من دي. موږ لومړي هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له ببلا ببلو منابعو (کتاب پلور نځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو په نومورو مراجعو کې د مطالبو او موادو دنشتوالي په صورت کې اریك هڅه کوي چې د اړتیاوړ آثارو په تألیف، تر جمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

لومړی

د دغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور پنځه کاله د مخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کارپیل شو او له هغه وخت را هیسې تر اوسه پورې د اریك ګرځنده کتابتونونو اداري د محترمو موسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې تر سره کړي دي. د ښه او سیستماتیك کار له پاره د اریك د اداري د استازیو او یوشمیرځیړونکو او لیکوالو یوګډ هیات وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ پړاوونه، چې د تکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تالیف کېږي، په ګډ پر مخ بوځي. دغه هیات د افغانانو له صمیمې همکارې مېرمن نانسي هېچ دوپري، محقق سید محی الدین هاشمي، فیض محمد نایاب عطایي، پوهنیار روضت الله مجید، محمد شکیب افضلي او محمد رفیع فاروق ځخه تشکیل شوی دی. موږ له خپلو ټولو درنو لوستونکو ځخه چې د هیواد په بېلابیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې ز موږ له کتابتونونو ځخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولېږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو ځخه غواړو چې له موږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لابنه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

داریك د ګرځنده کتابتو نونو اداره

لړليک

سر ليک ——————— مخ

سريزه ---------- الف ـ د

لومړی څپرکی: ژبه، ژبپوهنه او ګرامر

ژبه ---------- ۱

ژبپوهنه- د ژبپوهنې څانګې ---------- ۲

ګرامر ---------- ۳

د ګرامر ليکنې اولوستنې موخه او هدف ---------- ۴

دګرامر ډولونه - د ګرامر څانګې ---------- ۶

په پښتو کې دګرامر ليکنې لنډ بهير ---------- ۷

دويم څپرکی: غږ پوهنه (Phonology)

د پښتو غږونو ډولونه ---------- ۱۳

خپلواک آوازونه ---------- ۱۴

بيواک آوازونه ---------- ۱۵

نيمواک غږونه (Semi Vowels) ---------- ۱۶

غبرګ غږونه (Diphthongs) ---------- ۱۸

بيواک مرکب غږونه (Clusters) ---------- ۱۹

دريم څپرکی: ګړ پوهه يا صرف (Morpholog)

خپلواکې کلمې يا نامقيد مورفيمونه ---------- ۲۰

نومونه- د نومونو ډولونه ---------- ۲۱

د نوم اوړونې (ګرداني) اړخونه ---------- ۲۲

د نارينه نوم نښې - د ښځينه نوم نښې ---------- ۲۳

د نارینه نوم د جمعې ننبې ---------- ۲۴
د ښځینه نوم د جمعې ننبې ---------- ۲۵
اوښتونکي نومونه ---------- ۲۷
نه اوښتونکي نومونه - د نوم معنوي حالتونه ---------- ۲۹
ستاینوم (صفت) - د ستاینوم ډولونه ---------- ۳۴
صفت او موصوف ګرداني سمون ---------- ۳۵
نومځری (ضمیر) ---------- ۳۶
د نومځري ډولونه ---------- ۳۷
شمیر نوم (عدد اسم) ---------- ۴۳
دشمیر نوم او شمیرلي (عدد او معدود) ګرداني سمون ---------- ۴۴
قیدونه ---------- ۴۵
اصلي یا نه ګرانیدونکي قیدونه ---------- ۴۵
غیر اصلي یا ګرانیدونکي قیدونه ---------- ۴۶
مصدر یا کړ نومونی ---------- ۴۷
دجوړښت له مخې د مصدر ډولونه ---------- ۴۸
د معنا له مخې د مصدر ډولونه ---------- ۴۹
فعلونه ---------- ۵۱
د فعل ګرداني اړخونه ---------- ۵۲
د فعل وجه ---------- ۵۴
د فعل صیغه ---------- ۵۵
د فعل معنوي اړخونه ---------- ۵۶
د زمانې له مخې د فعل ډولونه ---------- ۵۷
تیر مهال (ماضي) فعل ---------- ۵۷
مطلقه ماضي ---------- ۵۸
استمراري ماضي، نږدې ماضي، لرې ماضي ---------- ۵۹

احتمالي يا التزامي ماضي ---- ۶۰
حال فعل ---- ۶۱
مطلق حال فعل ---- ۶۱
استمراري حال فعل، التزامي حال فعل، امر فعل، نهي فعل ---- ۶۲
مستقبل فعل ---- ۶۲
نا خپلواکي کلمې يا مقيد مورفيمونه ---- ۶۴
سربلونه- او ستربلونه ---- ۶۴
ادات ---- ۶۵
ارتباطي ادات، د عطف ادات،اضافي ادات ---- ۶۵
تشبيهي ادات - تاړي (وندونه)مختاړي ---- ۶۶
وروستاړي ---- ۶۷

څلورم څپرکی: نحوه يا جمله پوهنه (Syntax)

د نحوې موضوع ---- ۷۱
تګميم يا د نحوې واحد ---- ۷۲
ترکيب (غوندې-عبارت) ---- ۷۳
د ترکيب ډولونه ---- ۷۴
فقره (Clause) - د بنې له مخې د فقرې ډولونه ---- ۷۸
جمله ---- ۸۱
دجملې جوړښت او رغنده‌توکي ---- ۸۲
د مبتداءاو خبر سمون (مطابقت) ---- ۸۴
د جملې بشپړونکي توکي ---- ۸۵
آهنګ- خج ---- ۸۶
بيلتون او پيوستون(وصل او فصل) ---- ۸۷
د جملې ډولونه ---- ۸۸
اخځليکونه ---- ۹۳

سریزه

ګرامر په آګاهانه او شعوري ډول د بوي ژبې د جوړښت د نظام مطالعه ده او معمولاً ديوې ژبې دمعياري بڼې د زده کړې د اسانتيا له پاره ليکل او لوستل کيږي. برسيره پر دې چې ګرامر له موږ سره د ژبې دمعياري لهجې په زده کولو کې مرسته کوي د نورو ژبو په زده کړه کې هم را سره مرستندوی واقع کيدای شي.

د اريک د ګرځنده کتابتونو اداري د خپل علمي او معلوماتي کتاب خپرونو په لړ کې د عامو لوستونکو له پاره د هغوی دمعلوماتي پانګې د زياتولو په هيله او موخه د پښتو اودري ژبو د لنډو ګرامرونو دخپرولو هوډ او تکل کړی دی. د پښتو ژبې د لنډ ګرامر ليکلو له پاره يې پر ما څرګنده کړ. مايې غوښتنه ومنله. لاس په کار شوم او دا حاضر کتابګوتی مې وليکه.

هسې خو د لاس ته راغليو اسنادو له مخې په پښتو ژبه کې د ګرامر ليکنې بهير له تيرو دوه - دوه نيمو پيړيو را روان دی. په ۱۱۹۵ هـ ق کال د پير محمد کاکړ د ليکلې ګرامر ډوله اثر "معرفة الافغاني" څخه را واخله تر دې وخته په افغانستان‌کره پښتونخوا او د نړۍ په نورو هيوادونو کې په لس ګونو پښتو ګرامرونه يا ګرامر ډوله آثار د کورنيو او بهرنيو ليکوالو او پوهانو له خوا په بيلا بيلو ډولونو او سر ليکونو ليکل شوي او دا لړۍ لا روانه ده.

زمونږ په هیواد کې لیکل شوي پښتو ګرامرونه. ځینې سره له دې چې په لیکنه کې یې ډیر زیار او کړاو ګالل شوی، خو په زړه پورې ګټور مواد او معلومات پکې شته، او په خپل وخت کې یې څوک له لوړ ارزښت نه سترګې نه شي پټولی. خو دا چې په دودیزه (عنعنوي) بڼه د عربي ژبې د قواعدو پر بنسټ لیکل شوي او د معاصرې ژبپوهنې د دې اصل له مخې چې: هره ژبه د رغاونې جلا سیستم، قواعد او خپله لغوي پانګه لري. نو د یوې ژبې ګرامري قواعد د بلې له پاره کارول یا د یوې ژبې ګرامر کټ مټ د بلې ژبې د ګرامر په تقلید او پیروۍ لیکل علمي او منطقي کار نه دی. نو ځکه نن سبا زمونږ د ژبې دغه ډول ګرامرونه د ژبپوهانو له یو لړ نیوکو سره مخامخ دي.

د پښتو یو شمیر داسې ګرامرونه هم شته چې د نوې ژبپوهنې په رڼا کې لیکل شوي او په علمي اصولو برابر دي. خو هغه بیا د پوهنتون د پوهنځیو له پاره یا په بله وینا په لوړه اکاډمیکه سویه دي، چې عام لوستونکي، په ځانګړې توګه د ښوونځیو زده کوونکي لا څه ډې د هغوی ښوونکي هم ور څخه لازمه استفاده نشي کولی، نو د همدې اړتیا له مخې مې د خپلو درنو استادانو له همدغو علمي او اکاډمیکو ګرامرونو څخه په استفاده تر ممکنې اندازې په ساده، روانه او اسانه ژبه د پښتو ژبې د یو لنډ ګرامر د ترتیبولو او لیکلو هڅه کړې چې په عام ډول د هر لوستونکي مینه وال له پاره او په ځانګړې توګه د ښوونځیو د ښوونکو او زده کوونکو له پاره د پښتو ژبې د معیاري لیکنې بڼې په زده کړه کې مرستندوی واقع شي.

ددې لنډ ګرامر اوډون په څلورو څپرکو کې په دې ترتیب شوی دی: لومړی څپرکی، د ژبه، ژبپوهنه او ګرامر تر سر لیکونو لاندې د دغو مفاهیمو په لنډو پیژندنو، ځانګړنو، ځانګړو او ډولونو لنډ او څغلند بحث

لري او په پای کې په پښتو کې د ګرامر لیکنې بهیر تر سر لیک لاندې لوستونکو ته د زیاتو معلوماتو له پاره هغه ګرامرونه په ډیر لنډون سره ورپیژني چې افغاني او بهرنیو پوهانو په دې تیرو دوه نیمو پیړیو کې لیکلي دي.

دویم څپرکی، د "غږ پوهنې" تر سر لیک لاندې د پښتو غږونو بیلابیل ډولونه او ځانګړنې لوستونکو ته ورپیژني. درییم څپرکی، "ګرې پوهنې یا صرف"، ته ځانګړی شوی چې د کلمو له ډولونو (خپلواکو، ناخپلواکو) او د هغو له بیلا بیلو ځانګړنواوحالتونو په اړه په لنډون سره د بحث لمن غځوي.

څلورم څپرکی، نحوې ته بیل شوی چې لوستونکو ته د ترکیب، فقرې او د جملې رغوونکي توکي، ډولونه او نورې ځانګړنې ورپیژني.

دلته د دې خبرې یادونه ضروري بولم چې د دې کتاب د لیکنې پر مهال زما په وړاندې د اړیک د کتاب خپرولو د پالیسۍ له مخې د مخونو د شمیر د محدودیت (۸۰-۱۰۰ مخونه) ستونزه پرته وه او اړ وم چې هغې ته په کتنه او پاملرنه د بیلا بیلو موضوعاتو په تشریح او د بیلګو په راوړلو کې له ډیر لنډون څخه کار واخلم.

ښایي په ځینو برخو کې همدغې له ډیر لنډون څخه کار اخیستنې کله کله د لیکنې له محتوا څخه د پوهیدنې او درک چاره هم لږ و ډیره زیانمنه او ستونزمنه کړې وي، په دې هیله یم چې درانه لوستونکي به مې د یاد شوي لامل له مخې معذور ګڼي.

له دې سره سره بیا هم ما هڅه کړې چې په هره برخه کې ډیر مهم مسایل، چې زما په نظر پرې یو عام لوستونکي او زده کونکي ته پوهیدنه ضروري بریښیدله، هغه مې په لاړم غور او احتیاط په ساده او اسانه ژبه لیکلي دي.

په پای کې له قدرمن ورور د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د غړي سر څېړونکي مرستیال ښاغلي نصر الله ناصر صاحب څخه چې له خپلو ډېرو علمي بوختیاوو سره سره یې دا اثر په وروستي نظر وکوت او لازمې سمونې یې پکې وکړې، او همدارنګه د اریک د ګرځنده کتابتونونو له اداري څخه چې ماته یې ددې اثر د لیکنې لاړې چارې برابرې کړې او زه یې د دې خدمت د سر ته رسولو جوګه کړم،د زړه له کومې مننه کوم او بریالیتوبونه یې غواړم.

که زما دا کړې خواري درنو لوستونکو ته په ښه ورشي او د پښتو ژبې د معیاري بڼې په زده کړې کې یې لږه هم مرستندویه شي. دا به زما لویه خوښي او نیکمرغي وي. په همدې هیله!

په درنښت

محقق سید محي الدین هاشمي

کابل- احمد شاه بابا مینه

د وږي شلمه. ۱۳۸۳ لمریز کال

د ليکوال لنډه پېژندنه:

محقق سید محي الدين هاشمي د سيد هاشم زوی د ۱۳۳۶ لمريز کال د غبرګولي (۱۹۵۷م. جون) په ميا شت کي د ننګرهار ولايت د کوز کونړ ولسوالي د بډپالي په کلي کي زيږېدلی دی.

زده کړې:

لومړنۍ: منځنۍ، ثانوي: دره نور ليسه (۱۳۵۶ لمريز فارغ)
ليسانس: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادب خانګه (۱۳۶۱ لمريز فارغ)
ماسټري: پېښور پوهنتون، پښتو ادبيات (۱۹۹۰ م)

دندې:

الف ـ په هېواد کي: په کابل پوهنتون او ننګرهار پوهنتون کي د پښتو ادبياتو استاد، اوس د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو د نړېوال مرکز علمي غړی، د تاليف او ترجمې د څانګې آمر.
ب ـ د هجرت په چاپېريال کي: په دعوت او جهاد پوهنتون کي د پښتو ادبياتو استاد، د متحد اسلامي تعليمي نصاب او د GTZ بيفير د تعليمي نصاب غړی، د جهادي دايره المعارف د تاليف، ترجمې او تدقيق د څانګې غړی او د يو شمېر خېرونو ليکوال غړی، مرستيال، مسوول مدير او د انساني مرستو د برابرولو اداري (همکاري) د صبا خپرندويه مرکز غړی.

آثار:

چاپ: د ليکوالي فن، پښتو ګرامر (ژباړه)، د سردرو توتيان (ادبي تذکره)، د افغانستان مشاهير (لومړی، دويم او دريم ټوکونه)، ابدي ژوندي، په افغانستان کي د وړلې پيژو اړيکو د وسايلو لنډ تاريخ (ژباړه)، د پنځم ټولګي پښتو، د ماشومانو اولسي لوبې (ژباړه)، ادب پوهنه، همدا اثر (د پښتو ژبې لنډ ګرامر)
ناچاپ: د ادبي اصطلاحاتو تشريحي فرهنګ، د وينا هنر او پښتو اولسي ادبيات، د پښتو ادبياتو لنډ تاريخي بهير، په افغانستان کي د کتابخانو لنډ تاريخي بهير او ... برسيره پر دي: سلګونو علمي، ادبي، تاريخي څېړنيزې مقالې دننه په هېواد او د هجرت په چاپېريال کي په خپرونوکي خپرې شوي دي.

د اريک د ګرځنده کتابتون
څواکمن
د اګېږه اطلاعاتي او نشراتي مناسبتونو مرکز
د اريک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړی
پرله پسې نمره ۱۳۲

PROPERTY OF
ACKU
12087

لومړی څپرکی:

ژبه، ژبپوهنه اوګرامر

لومړی- ژبه:

د غږیزویا صوتي سمبولونو داسې یو اکتسابي او قرار دادي سیستم دی چې د یوې ټولنې وګړي یې په خپل مینځ کې د پوهولو راپوهولو لپاره کار وي.

یوه بله عامه پیژندنه یې داسې ده: د صوتي غږو د آوازونو او ددغو آوازونو له لارې چې معنا ګانې او مفاهیم مینځته راوړي، د احساساتو او اندیښنو څرګندونې او تفهیم ته ژبه وایي.

یا: د وګړو ترمنیځ د مفاهمې او ارتباط هرې وسیلې ته ژبه ویل کیږي. دغه ارتباط د اشارې په واسطه تر سره شي او یا د نښو او علامو او که له نورو لارو څخه.

د یادونې وړ ده چې ژبې ته څکه ټولنیزه او اکتسابي پدیده ویل کیږي چې فطري نه وِ ده، بلکې زده کیږي. له ټولنې پرته هیڅکله هم ژبه مینځته نشي راتللی او نه ورته اړتیا پیښیږي. البته د ژبې زده کړه یوه فطري او طبیعي څانګړنه ده چې الله (ج) انسان ته وربخښلې ده، نو د پایلې په توګه وایو چې:

ژبه د نښو او سمبولونو د یو سیستم په توګه یوازې انسان پخپله ټولنه کې زده کوي، چې د هغې په مرسته یا وسیله خپل فکرونه،

غوښتنې، احساسات او خیالات نورو همنوعوته څرګند کړي او په دې توګه د پوهولو او راپوهولو خپل منځي اړیکي وساتي.

دویم - ژبپوهنه:

هغه پوهنه ده چې د معاصرو طریقو په اساس د ژبې ماهیت او څرنګوالی مطالعه کوي او د بیلو بیلو ژبو کورنۍ، ددوی خپلوي یا خپل منځي اړیکې، تاریخي بدلونونه او کټه ګوري څرګندوي.

په یوې بلې پیژندنې(تعریف) کې یې لولو:

هغه پوهنه چې ژبه او د هغې څرنګوالی، رغاونه او ډول ډول ژبنې مسایل ترکتنې او څیړنې لاندې نیسي ژبپوهنه یې بولي.

کله کله ځینې وګړي د ژبپوهنې زده کړه د ژبې د زده کړې په معنا او مفهوم تعبیر او انګیري، حال دا چې "ژبه" او "ژبپوهنه" دوه بیل او خانګړي واقعیتونه دي. ژبپوهنه ددې له پاره لوستل کیږي چې د ژبې په باره کې عمومي تولنیزه پوهه او معلومات تر لاسه شي.

د یوې عصرې پوهنې (علم) په توګه په ژبپوهنه کې د ژبې پیدایښت، جوړښت، څرنګوالی، اوښتنه، پراختیا، پرمختیا، د ژبو بیلا بیلې کورنۍ، څانګې، لهجې او د ژبې په باب داسې نور علمي او نظري مسایل څیړل کیږي، نو لازمه ده چې د ژبې زده کړه د ژبپوهنې له زده کړې سره ګډه نشي.

د ژبپوهنې څانګې:

ژبپوهنه د یوې معاصرې پوهنې په توګه ډېرې اصلي او فرعي څانګې لري چې لویې او مهمې څانګې یې دادي:

الف- تاریخي ژبپوهنه: چې دژبې بدلونونه د تاریخې بهیر له مخې مطالعه کوي.

ب- پرتلیزه یا مقایسوي ژبپوهنه: چې د ژبو څوکورنۍ په مقایسوي ډول مطالعه او ددوی اړیکې او خپلوۍ څرګندوي.

ج- تشریحي ژبپوهنه: چې یوه ژبه د هغې له تاریخي بدلونونو او تحولاتو پرته په یوې ټاکلې زماني مقطع کې مطالعه کوي.

د ژبپوهنې پورتنۍ درې واړه لویې څانګې وړې - لویې، اصلي او فرعي څانګې،او همدارنګه د څېړنې یا مطالعې پراخه ساحه لري. ګرامر هم د تشریحي ژبپوهنې یوه لویه او مهمه څانګه ده، چې د یوې ژبې د معیاري بڼې د زده کړې د اسانتیا له پاره لیکل او لوستل کیږي.

دریم - ګرامر:

د ګرامر اصطلاح د لاتیني او یوناني ګراماتیکي (Grammatic) له ریښې څخه راوتلې ده، چې ژبپوهنه معنا لري، ګرامر د یوې ژبې علمي او منظمه مطالعه ده یا په بله وینا د یوې ژبې د علمي جوړښت او نظام شرحې ته ګرامر ویل کیږي.[۱]

په یوې بلې پیژندنې کې یې لولو:

ګرامر د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د یوې ژبې صرفي (مورفولوژیك) او نحوي (سینټکس) جوړښت او ساختمان ترڅېړنې لاندې نیسي، یعنې د یوې ژبې د لغاتو د تغییر شکلونه، د هغوی ترکیب، دجملو جوړښت او څرنګوالی مطالعه او تشریح کوي.[۲]

---

(۱) پوهاند دوکتور یمین محمد حسین ، دستور همه ګاني زبان دري، داریك د ګرځنده کتابتونو اداره، پیښور، ۱۳۸۳ ، سریزه، لومړی مخ.

(۲) پوهنوال محمد صابر خویشکی، پښتو غږ پوهنه او وېې پوهنه. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۸۰ هـ ش، ۵ مخ.

د ګرامر لیکنې او لوستنې موخه او اهمیت:

په ځینو پخوانیو ګرامرې آثارو کې په عنعنوي توګه د ګرامر دپیژندنې په لړ کې ویل شوي دي:

ګرامر د هغو قواعدو او قوانینو مجموعه ده چې په رعایت کولو سره یې په وینا او لیکنه کې له خطا او ښوئیدنې څخه ژغورل کیږو.

یا: هغه قواعد او قوانین چې موږ له سموویلو او لیکلو څخه خبروي ګرامر بلل کیږي. یا په بله وینا: ګرامر د هغو قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی چې دیوې ژبې د سمو ویلو او سمو لیکلو له پاره پکاریږي.

د ګرامر دا پورته او دې ته ورته نورې پیژندنې د ژبنیو څیړنو له اوسنیو علمي اصولو او موازینو سره اړخ نه لګوي، ځکه چې په ژبنیو او ګرامر ي څیړنو کې ژبه په زوره د قوانینو تابع نه ګرځول کیږي. د یوې ژبې ویونکي د خپلې ژبې د ګرامر له لوستلو پرته هم سمې خبرې کوي او بې له کومې سهوې او خطا څخه ژبه کاروي، نو له همدې کبله ویلی شو چې: ګرامر هغه پوهنه ده چې د یوې ژبې د جوړښت سیستم ترکتنې لاندې نیسي. او دا چې هره ژبه ځانته درغاونې جلا سیستم او لغوي پانګه لري، نو د یوې ژبې په ګرامر لیکنه او برابرونه کې د هماغې ژبې خپله رغونه، قواعد او لغوي پانګه په پام کې نیول کیږي د یوې ژبې ګرامري قواعد د بلې ژبې له پاره کارول یا د یوې ژبې ګرامر کټ مټ دبلې ژبې دګرامر په تقلید او پیروۍ لیکل سم، علمي او منطقي کار نه دی.

زموږ د پښتو او دري ژبې پخواني دودیز یا عنعنوي لیکلي ګرامرونه داوسنۍ یا معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې ځکه تر نیوکې (انتقاد) لاندې نیول کیږي او یا نیمګړي ګڼل کیږي چې پخپله د پښتو او دري ژبود ژبنیو قواعدو پر بنسټ نه، بلکې د عربي ژبې داصولو او قواعدو او یا هم د افلاطون او ارسطو د ژبنیو نظریاتو پر بنسټ لیکل شویو کلاسیکو

ګرامرونو پر بنسټ چې **کلمه په دري ډلو: نوم، فعل او حرف بیلوي؛ لیکل** شوي دي. حال دا چې هره ژبه خپل ځانګړي ګرامري **قوانین او لاړې لري**، نو په ګرامر لیکنه کې باید پخپله د هماغې ژبې له قواعدو او اساساتو کارو اخیستل شي.

د معاصرې ژبپوهنې له مخې ګرامر لیکونکي باید هڅه وکړي چې ژبه هغسې تشریح کړي چې ده، د علمي څېړنو له مخې د یوې ژبې د قواعدو تطبیق پربله ژبه سم نه دی.

ترکومه چې خبره د ګرامر لیکنې په موخې(هدف) او په ښوونځیو او پوهنځیو کې د هغې د لوستلو په ارزښت او اهمیت پورې اړه لري ویلی شو چې: د یوې ژبې د ګرامر لیکنې او لوستنې موخه او ارزښت په دې کې دی چې ګرامر د یوې ژبې د معیاري لیکنې بڼې د زده کړې د اسانتیا له پاره لوستل کیږي او زده کوونکي د خپلې ژبې د ګرامر په مرسته نورې ژبې هم په اسانۍ سره زده کولی شي. همدارنګه د مورنۍ ژبې د ګرامر په مرسته د خپلې ژبې معیاري لهجه هم زده کوي.

نو ویلی شو چې: ګرامر د یوې ژبې شعوري مطالعه ده یا په بله وینا: په آګاهانه او شعوري ډول د ژبې د جوړښت د نظام تشریح ده.

دپایلې په توګه وایو چې: ګرامر د تشریحي ژبپوهنې یوه لویه او مهمه ځانګه ده چې د یوې ژبې د معیاري بڼې دزده کړې د اسانتیا له پاره لیکل او لوستل کیږي، خو دلته داخبره دیادونې وړ ده چې ژبپوهنه د یوې نوې او عصري پوهې په توګه په شلمې پیړۍ کې رامینځته شوی، خو د تشریحي ژبپوهنې دا مهمه ځانګه (ګرامر) یا ((ګرامر لیکنه)) ډېر اوږد او لرغونی تاریخ لري یوه غوره بیلګه یې د پا ڼینې دسانسکریت ژبې ګرامر دی چې څوزره کاله د مخه یې په لرغونې آریانا کې لیکلی دی.

د ګرامر ډولونه:

ګرامر لیکنه د بیلا بیلو میتودونو او تیوریو له مخې زیات ډولونه لري، چې د ځینو ډېرو مهمو نومونه یې دادی:

تشریحي ګرامر، تاریخي ګرامر، مقایسوي ګرامر، تعلیمي ګرامر او نور.

ځینو ګرامر لیکونکو ګرامرونه په دریو ستړو کټګوریو ویشلی دي. (۳)

۱ـ کلاسیك او دودیز ګرامرونه Traditional Grammar

۲ـ پرتلیز تاریخي ګرامرونه Comparative historical Grammar

۳ـ تشریحي او ساختماني ګرامرونه Structural Grammar

د ګرامر څانګې:

ګرامر د یوې ژبې رغاونه او جوړښت په دې لاندې دریو ستړو څانګو کې مطالعه او څېړي:

۱ـ غږ پوهنه یا آواز پوهنه (فنولوژی)

۲ـ صرف یا ګرځپوهنه (مورفولوژي)

۳ـ نحوه یا جمله پوهنه (سنټکس)

ځینې ژبپوهان مورفو فونیمکس یا د فونیم د بدلون نظام او سیما ـ نټکس یا د یوې ژبې د معنوي خواوو مطالعه هم پرې ورزیاتوي. (۴)

په دې کتابګوتي د کې پښتو ژبې د ګرامر پورتنۍ دري واړه څانګې په ترتیب سره په لنډیز توضیح او تشریح شوي دي.خو د مخه تر دې چې دادري واړه څانګې توضیح او تشریح شي، بې ځایه به نه

---

(۳) یمین محمد حسین (پوهاند، دوکتور) دستور معاصرزبان پارسي. دري، مرکز نشراتي میوند، ۱۳۷۸ هـ ش. ۱۹ مخ.

(۴) پوهنوال خویشکی، پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه، ۷ مخ.

وي چې د درنو لوستونکو د معلوماتو د زیاتوالـــی له پاره د پښتو ګرامر لیکنې لنډ بهیر وړاندې کړو:

په پښتو کې د ګرامر لیکنې لنډ بهیر

کله چې د پښتو ګرامر لیکنې بهیر ترکتنې او څېړنې لاندې نیسو. نو له دوه ډوله لیکلو ګرامرونو سره مخامخ کیږو: یو افغانانو لیکلي ګرامرونه او بل بهرنیانو لیکلي ګرامرونه. موږ دلته ددغو ګرامرونو په کره توب او ناکره توب، علمي ارزښتونو او نورو ځانګړنو څه نه وایو، د معلوماتو د زیاتوالي په موخه او هدف یې یوازې لوستونکي له نومونو، د لیکنې، او خپریدنې له تاریخي بهیر سره آشناکوو:

الف- هغه ګرامرونه یا ګرامري آثار چې افغانانو لیکلي دي:

هغه ګرامرونه چې د تاریخ په اوږدوکې پخپله افغاني ژبپوهانو لیکلي. او موږ یې نن قلمي یا چاپي نسخې په لاس کې لرو. دادي:

۱ـ **معرفت الافغاني**: دغه ګرامر تر ډېره درسي بڼه لري. پیرمحمد کاکړ په ۱۱۹۵ هجري قمري کال لیکلي. لومړی ځل په ۱۳۴۱ هـ ق کال د ملاجان او بسم الله تاجرانو له خوا په هند او دویم ځل په ۱۳۵۶ لمریز کال د اطلاعاتو او کلتور دوزارت له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

۲ـ ریاض المحبت: نواب محبت خان په ۱۸۰۶ میلادي کال لیکلی دی چې دوې برخې لري: لومړی برخه یې مشتقات او دوهمه برخه یې متفرقات دي دایو پښتو- فارسی تشریحي قاموس دی. دا چې ده دیوې کلمې پیلا بیلې برخې په تعریفي بڼه راوړي؛ نو ځکه ځینې کسان ګرامر بولي.

۳_ پښتو ګرامر: نواب انشاء الله خان انشاء په ۱۸۱۷ م کال لیکلی، ددې اثر یادونه خیال بخاري د خپل اثر پښتو ګرامر په سریزه کې کړې ده.

۴_ وافیه: قاضي میر احمد شاه رضواني لیکلی او په ۱۸۹۰ م کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

۵_ اتالیق پښتو: مولوی محمد اسعمیل لیکلی او په ۱۸۹۶ م کال په پنجاب کې خپور شوی دی.

۶_ تحفة الامیر: نور محمد افغان په ۱۲۷۹ هجري قمري کال لیکلی او امیر شیر علي خان ته یې وړاندې کړي دی.

۷_ پښتو پښویه: اعلیحضرت امان الله خان دواکمنۍ په مهال د پښتو مرکې د غړیو له خوا لیکل شوی او په ۱۳۴۷ هجري قمري کال چاپ شوی دی.

۸_معلم پښتو: د کندهار د ادبي انجمن له خوا په ۱۳۱۴ هجري لمریز کال په کندهار کې چاپ شوی دی.

۹_ګنجینۀ افغاني: لیکوال یې قاضي رحیم الله پیښوری دی، په ۱۹۳۸ م کال کې چاپ شوی دی.

۱۰_ خود آموز پښتو: یو درسي ګرامري اثر دی چې په ۱۳۱۳ هجري لمریز کال په کندهار کې د طلوع افغان جریدې د اداري له خوا خپور شوی دی.

۱۱_ پښتو ژبه (لومړی او دویم ټوک): لیکوال یې مولوی صالح محمد او په ۱۳۱۶ هجري لمریز کال په کابل کې چاپ شوی دی.

۱۲_ پښتو ښوونکی یا مدرس افغاني: محمد عثمان بارکزي لیکلی او په ۱۹۴۰ع کال په کابل کې چاپ شوی دی.

۱۳ـ د پښتو ژبې لیاره: وزیر محمدګل خان مومند لیکلی او په ۱۳۱۷ لمریز کال چاپ شوی دی.

۱۴ـ قواعد پښتو: محمد اعظم ایازي لیکلی او په ۱۳۱۸ لمریز کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

۱۵ـ د پښتو درسي ګرامر (پښتو شپږمه کلي): پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی او په ۱۳۲۴ لمریز کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

۱۶ـ لومړی لیار ښوونکی: پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی او په ۱۳۲۶ لمریز کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

۱۷ـ پښتو ګرامر: پوهاند صدیق الله رښتین په دري ژبه لیکلی ، لومړی برخه (جز) یې په ۱۳۲۷ لمریز کال د پښتوټولنې له خوا او دویمه برخه (جز) یې په ۱۳۵۹ لمریز کال لیکلی شوې او په ۱۳۷۰ لمریز کال د ښوونې او روزنې وزارت له خوا چاپ او خپور شوی دی. او بیا د هاشمي له خوا په پښتو ژبارل شوی اوپه۱۹۹۴ م کال په پیښور کې د یونیورسټي بك ایجنسي له خوا چاپ شوی دی.

۱۸ـ ژبښودنه: پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی او لومړی ځل په ۱۳۴۱ لمریز کال په کابل کې خپور شوی دی.

۱۹ـ د پښتو مصدرونو لارښود: د پوهاند رښتین اثر دی چې په ۱۳۴۴ لمریز کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

۲۰ـ صرف و نحو پښتو: مؤلف یې عظیم شاه خیال بخاري او په پیښور کې چاپ شوی دی.

۲۱ـ پښتو قواعد: دا ګرامر حافظ محمد ادریس او عبدالحلیم اثر افغاني په ښوونځیو کې د تدریس په موخه لیکلی دی.

۲۲ـ پښتو قاعدې : سید راحت زاخیلي لیکلی او پر ۱۹۵۳ م کال په پیښور کې خپور شوی دی.

۲۳_ د پښتو قواعد: ددې ګرامر لیکوالان سید تقویم الحق او سید تسنیم الحق کاکاخیل دي، په ۱۹۵۳ م کال په پیښور کې چاپ شوی دی.

۲۴_ د پښتو ژبې لنډ ګرامر: فضل محمد کندهاري په ۱۳۲۰ لمریز کال کندهار کې لیکلی دی.

۲۵_ د پښتو ګرامرطرحه: د پوهاند محمد رحیم الهام څېړنیزې لیکنې دي چې په ۱۳۴۴ لمریز کال په وړمې مجله کې پرله پسې خپرې شوې دي.

۲۶_ جامع القواعد د پښتو: مؤلف یې عبدالکریم بریالی او د سهیلي پښتونخوا (بلوچستان) پښتو اکاډمي له خوا خپور شوی دی.

۲۷_ پښتو پښویه: پوهاند مجاور احمد زیار لیکلی او په ۱۳۶۲ لمریز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی.

۲۸_ ویې پوهنه: پوهاند زیار لیکلې او په ۱۳۵۹ لمریز کال د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی.

۲۹_ پښتونحوه: پوهندوی ډاکټرې زرغونې زیور لیکلی او په ۱۳۸۲ لمریز کال د ساپې د پښتو څېړنو د مرکز له خوا چاپ شوی دی.

۳۰_ پښتو فونولوژی او مورفولوژی: پوهنوال محمد صابر خویشکي لیکلی او په ۱۳۸۰ لمریز کال د افغانستان کلتوري ودې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

۳۱_ پښتو فونولوژي: ډاکتر هلالی لیکلی او په ۱۳۷۰ لمریز کال د علومو اکاډمی چاپ کړی.

۳۲_ پښتو په بیلګه یې جملو کې: سرمحقق محمد صدیق روهی لیکلی او د علومو اکاډمي چاپ کړی دی.

برسیره پردې پورتنیو ګرامرونو د "پښتو ګرامر" په نوم د عبدالواحد خان لیکلی اثر، "د پښتو مفصله صرف او نحوه" په نوم د غلام جیلاني جلالي لیکنه او "د پښتو کوچنی ګرامر" چې دلاور خان لیکلی، قلمي مسودې یې په عامه کتابخانه کې او د مولوی شیرګل "د پښتو ګرامر" قلمي مسوده د افغانستان د علومو اکاډمی په کتابخانه کې موجوده ده.او همدارنګه په وړمه مجله کې د پښتو ژبې افعالو په اړوند د پوهاند ترې مقالې د یادونې وړ دی.

ب- هغه ګرامری آثار چې بهرنیانو لیکلي دي.

د بهرنیانو یا ختیځ پوهانو له خوا هم د پښتو ژبې او ګرامر په اړه ډېر آثار لیکل شوي چې د هغوی په هیوادونو کې د هغوی پخپلو ژبو چاپ شوي او یو شمیر یې زموږ په هیواد کې په پښتو ژباړل شوي او خپاره شوي دي، ددغو آثارو شمیره زیاته ده د ټولو پیژندنه په دې لنډه تنګه لیکنه کې نشي کیدای د بیلګې په توګه د ځینو مهمو آثارو دنومونو په ښودلو اکتفاءکوو.

لومړنی سړی چې په بهر کې یې د پښتو ګرامر په اړه خپلې څېړنې په ۱۸۱۰ ع کال خپرې کړې، روسي پوه کلاپورت نومیږي. وروسته بیا د نومورې د څېړنو په اساس ایوریسمن خپلې ګرامري څېړنې په ۱۸۳۳ ع کال چاپ کړې دي. په ۱۸۳۹ ع کال میجر لیچ د پښتو ژبې د ګرامر په اړه یوه کوچنی رساله ولیکله. پروفیسور ډورن د ۱۸۴۲ _ ۱۸۴۵ ع کلونو ترمینځ د پښتو ژبې په اړه ګرامري آثار لیکلي او خپاره کړي دي. د واګن په نوم یو ختیځ پوه په ۱۸۵۴ ع کال د پښتو یو کوچنی ګرامر لیکلی او له کلکتې څخه یې خپور کړی دی. د

پښتنو یا افغانانو د ژبې قواعد په نوم جارج میجر راورټي خپل اثر لیکلی او په ۱۸۵۵ ع کال یې خپور کړي دی. د هانري والتر بیلیو ګرامر د "پښتو یا پختو ژبې قواعد" په نوم په ۱۸۶۷ ع کال په لندن کې چاپ شوی دی. جرمني ختیځ پوه ګولډن شتیت هم د پښتو ژبې په اړه ګرامري څېړنې لري. فرانسوي ختیځ پوه ډار مستټر په ۱۸۸۸ ع کال د " افغانانو ژبه" په نوم یو اثر لیکلی چې ګرامري ارزښت لري. المانې ختیځ پوه ګایګر په ۱۸۹۳ ع کال د پښتو ژبې د فلالوژي په نوم یو اثر لیکلی دی. بیدولف په ۱۸۹۰ ع کال د پښتو ګرامر لیکلي او په لندن کې چاپ شوی دی.

روسي کیپل په ۱۹۰۱ ع کال د پښتو ژبې یو ګرامر لیکلی دی. د پښتو ګرامر او لغاتو په اړه یوه کوچنۍ رساله تومانو وپچ لیکلې او په ۱۹۰۸ کال یې په تاشکند کې خپره کړې ده. همدارنګه په ۱۹۱۱ ع کال په لندن کې دای کاکس چاپ شوی پښتو ګرامر، په ۱۹۱۵ ع کال دلاریمر" پښتونحوه" د مارګنسټرن د پښتو ژبې په باب ګرامري څېړنې. د اسلانوف له خوا په مسکو کې په ۱۹۳۶ ع کال د پښتو ژبې او ګرامر په باب یوکوچنی اثر. ل. انلبیدیف پښتو ګرامري څېړنې. دهربت پنزل پښتو ګرامر او د ډاکتر یرژي بیچکا د پښتو خج په نامه ګرامري اثر. چې دواړه پوهاند الهام پښتو ژباړلي دي، او د عبدالحفیظ غني یف او د پروفیسور ګریونبرګ د پښتو ژبې په اړه ګرامري لیکنې او څېړنې دیادونې وړ دي.(۵)

(۵) د پښتو ګرامر لیکنې بهیر د پوهندوی ډاکټرې زرغونه رښتین. زیور د اثر" پښتونحوه (۹ ـ ۱۷) مخونو څخه په استفادې په ډېر لنډون، خو په خپلو خپلونو کې په زیاتونو سره ولیکل شو.

دويم څپر کی:

غږ پوهنه

(Phonolgy)

غږ پوهنه یا آواز پوهنه د ګرامر هغه برخه ده چې د یوې ژبې ارزښتناك غږونه (فونیمونه) تر څیړنې لاندې نیسي.

غږ یا فونیم، د یوې ژبې ترټولو کوچنی عنصر دی چې پخپله کومه ځانګړې معنانه لري، خو په معنا لرونکو کلمو کې د معناتوپیر پیښوي. د بیلګې په ډول "ج" په پښتو کې یو آواز دی چې یو لغت، لکه (جال) یې له بل (نال) څخه توپیر کړی دی.

د پښتو غږونو ډولونه:

پښتو ژبه له ۳۷ غږونو یا آوازونو څخه جوړه او هغه په دې لاندې دریو لویو ډلو ویشل شوي دي:

۱_ خپلواك غږونه

۲_بیواك غږونه

۳_نیم واك غږونه

دلته دا هر ډول له خپلو ځینو ځانګړنو سره په ډېر لنډون درپېژنو:

لومړی _ خپلواک (واول = Vawels)آوازونه:

هغو غږونو یا آوازونوته وایي چې د تلفظ یا اداء کولو په وخت کې یې صوتي غږي نه په تماس کې کیږي او د هوا جریان له کوم بندیز سره نه مخامخ کیږي.

د خپلواکو غږونو ځانګړنې:

ژبپوهانو د خپلواکو غږونو له پاره درې عامې ځانګړنې ښودلې دي:

الف- د اداکولو په وخت کې یې هوا بندښت نه مومي.

ب- د ژبې د صرفي جوړښت په نظام کې د هجاء د هستې او مرکز په توګه واقع کیږي.

ج- په موج او څپه ییزه بڼه اداکیږي.

پښتو ژبه اووه خپلواك غږونه لري: لنډ الف(a) (زور یا فتحه) اوږد الف (ā) لنډ (و)/u/اوږد (و) /o/ ، لنډه (ي) / İ/ اوږده (ې) /e/، زورکی (ə)

١_ زور /a/ : کښتنی، منځنی، ناګرد او سست خپلواك غږ دی چې څه ناڅه لنډویل کیږي او زیاتره د کلمو په مینځ او پای کې راځي، لکه: اکر (akar)، کر (kar) اوپله (pla)

٢_ الف /ā/ : کښتنی، وروستنی، منځنی، ناګرد او ټینګ واول دی، زیاتره د کلمو په مینځ او پای کې راځی، لکه: کار (Kar) او رڼا (rana)

٣_ زورکی / ə/ : منځوال، منځنی، ناګرد اوسست آواز دی چې د پښتو ژبې له کندهاری لهجې پرته په نورو ټولو لهجو کې د کلمې په مینځ او پای کې راځي. خو په سراو پای کې لنډ او په مینځ کې

اوږدويل کيږي. لکه: مشر (məšar) کشر (Kəšər) خوله (xʊlə) تره (Trə).

۴ـ اوږده (ې) (e): منځوال. مخنی. ناګرد اوتينګ آواز دی. په سر او مينځ کې ډېر اوږد او په پای کې لږ څه لنډ راځي. شيدې. مېوې.

۵ـ لنډه (ي) (i): پورتنی. مخنی او ناګرد سست آواز دی. لکه: دوستي، ښادي.

۶ـ اوږد (و) /o/ : منځوال. وروستنی. ګرداوتينګ آواز دی چې څه ناڅه اوږد ويل کيږي. د کلمې په پيل. مينځ او پای کې راځي. **لکه:** شپول، پيشو، پښتو.

۷ـ لنډ (و) /u/: پورتنی. وروستی. ګرد او سست آواز دی. لکه: زوم، تتو او نور:

دويم- بيواک (کانسونينټ) آوازونه:

هغو غږونو يا آوازونو ته ويل کيږي چې د تلفظ کولو په وخت کې دغږيزو غږو له امله د هوا په جريان کې بندښت پيښيږي او يا په بله وينا: هغو آوازونو ته ويل کيږي چې له خولې څخه دراوتو په وخت کې دساهوا له بندښت سره مخامخ کيږي.

د بيواکو آوازونو ځانګړنې:

الف: بې موجه او بې غږه دي. د خپلواکو غږونو (آوازنو) په مرسته د اداء کولو او اوريدلو وړ ګرځي.

ب: د تلفظ په وخت او مهال کې د تنفس هوا له بندښت سره مخامخ کيږي.

ج: د ژبې د صرفي جوړښت په نظام کې هيڅکله دهستې او هيجاء د مرکز په توګه نه واقع کيږي.

د پښتو ب‍یواکه یا کانسونینټ غږونه (۲۷) دي، چې دلته یې دلاتین یا فونیمکي بڼې او بیلګو سره درښیو:

۱_ ب (B) بڼ، باران، کابل، درب.
۲_ پ (P) پل، توپ، ټوپ، پوپل.
۳_ ت (T) توت، کتاب، کښت.
۴_ ټ (Ṭ) ټال، بوټ، کټ، پټو.
۵_ ج (j) جام، جال، تاج.
۶_ ځ (ǰ) ورځ، ځان، ځمکه، منځنی،
۷_ چ (č) مچی، مچ، کوچ، چم.
۸_ څ (C) څادر، څرخه، خرڅ،خڅرکی، بڅرکی.
۹_ خ (x) خواړه، خوله، ملخ
۱۰_ د (d) خوند، پند، درمل، پلندر.
۱۱_ ډ (ḍ) ډبر، پنډ، خنډ، پنډغالی.
۱۲_ ر (r) تبر، رڼا، رنځور، یار.
۱۳_ ړ (ṛ) پړانګ، ړنګ، مړ
۱۴_ ز (z) زړه، عزت، راز.
۱۵_ ژ (ž) ژړا، ژرنده، ژوند.
۱۶_ ږ (ẓ) ږمنځ، زموږ، ږلی.
۱۷_ س (s) سر، لاس، سل
۱۸_ ش (š) شور، شپه، شین،..
۱۹_ ښ (ṣ) ښار، ښه، بابښه، اوښ.
۲۰_ غ (ğ) غر، غم، تغر، روغ.
۲۱_ ك (k) کور، کرونده، کار...
۲۲_ ل (l) لمر، لوړ، مل، ململ.

۲۳_ګ (g) ګل، ګوند، ګیله ، برګ.
۲۴_ م (M) مخ، ملګری، پام.
۲۵_ ن (N) نن، من، تن، مننه.
۲۶_ ڼ (Ṇ) بانډه، کوڼ، منډه
۲۷_ هـ (H) هندوانه، مهار، مهال

په پورتنیو (۲۷) غږونو کې دا لاندې (۸) د پښتو ځانګړي غږونه یا توري دي:

ډ	ړ	ږ	ښ	ړ	څ	ځ	ټ

همدارنګه زمونږ په دودیزه او مروجه الفبا کې لس، نور غږونه هم شته چې په مستعارو عربي کلمو کې استعمالیږي یا په بله ژبه دا غږونه چې په کومو کلمو کې راغلي، هغه به خامخا د عربي ژبې کلمې وي چې په پښتو کې په مستعار ډول استعمالیږي، هغه غږونه دادي:

۱_ ث (C) ثابت، باعث، وارث
۲_ ذ (ḏ) مأخذ، ذاکر، ذلت.
۳_ ح (H) محترم، محرم، حرام، روح.
۴_ ص (s̱) صبر ، نصرت، مقصر. شخص،
۵_ ض (z̄) ضرر، مرض، غامض.
۶_ ط (Ṯ) طالب، باطل، باطن، مربوط.
۷_ ظ (ẕ) ظاهر، ظالم، ناظم.
۸_ ع (ʕ) معلم، عادت، مشروع.
۹_ ف (F) نفع، فعل، فصل، صدف.
۱۰_ ق (Q) موافق، حقایق، علایق

دریم- نیم واک غږونه (Semi Vowel):

نیم واك غږونه یا سیمي واول هغه دی چې د خپلواکو او بیواکو آوازونو ترمینځ مینځګړتوب کوي یا په بله وینا: ددواړو ځانګړتیا لري، هم د واول او هم د کانسونینټ په ډول اداء کیږي. کله چې دغه غږونه د څپې زړی یا هسته وګرځي، د خپلواك غږ بڼه خپلوي او که د څپې زړی ونه ګرځي نو د بیواك په بڼه څرګندیږي. پښتو ژبه دوه نیم واکه غږونه لري:

(۱) و = w لکه په ور War ولور Walwar ، خولهٔ Xwlə

(۲) ی = y لکه په یو = Yaw زیړ = Zyaṛ

غبرګ غږونه (Diphthongs):

غبرګ غږونه یا دیفتانګونه د خپلواکو او بیواکو غږونو له یوځای کیدو څخه مینځ ته راځي.

یا په بله وینا: په پښتو ژبه کې هر دیفتانګ (غبرګ غږ) دوه فونیمي توکونه لري: لومړی توك یا برخه یې خپلواکه او دویمه یې نیم واکه وي.

الف: د/و = w غبرګ غږونه:

۱_ iw لکه: په تریو TRIW کې

۲_ ew لکه: په "لیو" Lew کې

۳_ aw لکه: په "لو" او "کنډو" Law Kandaw کې

۴_ āw لکه: په پراو Paṛaw کې

۵_ əw لکه په کتو Katəw کې

دغه ټول غبرګ غږونه د کلمو په پای کې راځي. aw او āw پر دې برسیره د کلمو په مینځ کې هم راځي.

د "ی" = Y غبرګ غږونه په لیکلې پښتو کې له ورسره همرنګو خپلواکــو (i,e) پرته له نوروټولو خپلواکو سره جوړیدای شي. بیلګې یې دادي:

(۱) ay لکه په میره mayrā او میده maydā کې

(۲) āy لکه په آئینه āyna او ځای zāy کې

(۳) əy لکه په نړۍ narəy او ډوډۍ dod dəy کې

(۴) Uy لکه په خوی xoy او بوی buy کې

(۵) Oy لکه په زوی zoy کې

له دغو غبرګ غږونو څخه ځینې یوازې د کلمو په پای او ځینې یې په سر، مینځ او پای کې راځي.

بیواک مرکب، غږونه (Clusters):

په پښتو ژبه کې ځینې داسې غبرګ غږونه شته چې د دوو بیواکو آوازونو له یو ځای کیدو څخه رامینځته کیږي، ژبپوهان، دغو غبرګو غږونو ته د بیواکه مرکب یا "کلستر" نوم ورکوي، دا غبرګ غږونه هم د کلمو په سر، مینځ او هم په پای کې راځي، لکه: لمر Lmar ، شپه spa، پسه ps ə ژوند žwand او داسې نور.

د پښتو بیواکواونیم واکو غږونو ښودنه:

زبرخی زبږ ه‌ډول		غبرګشوندیز bi-labial	غاښیز Dental	او وریز alveolar	غبرګژیز retroflex	زیږتالوییز Pre-palatal	نرم تالوییز Post-Palatal	ژبی- تالوییز Uvular	ستونیز Glottal
ځپونی Exclusive	غږپن نا غږپن	غږپن نا غږپن	ب b پ p	د d ت ṭ		ډ ḍ ټ ṭ	ګ g ک k		
مینلی Fricative	غږپن نا غږپن			ز z س s	ژ ž ش š	ز z ش š	ږ ǧ ښ x̌	غ g خ x	ه h
نرم مینلی affricate	غږپن نا غږپن			غ ǰ څ c			ج ǰ چ c		
اوږلن Lateral	غږپن نا غږپن			ر r ل l	ړ ṛ				
پزیز Nasal	غږپن نا غږپن	م m	ن n	ن n		ڼ ṇ			
نیمواک semi-vowels	غږپن نا غږپن	و w			ی y				

درېيم څپرکی:

ګړ پوهه (صرف)

(Morphology)

ګړ پوهه (صرف) د ګرامر هغه برخه ده چې د ګړونو یا کلمو (مورفیمونو) له رغاونې، اوړون (ګردان) او د هغو له ډولونو سره کار لري.

کلمه یا مورفیم د ژبې تر ټولو کوچنی معنا لرونکی عنصر دی چې دځو آوازونو له یوځای کیدو څخه جوړیږي او له تجزیه کیدو څه یې بې معنا ساده آوازونه لاس ته راځي .

کلمې یا مورفیمونه په لومړۍ سرکې پر دووبرخویا ډولونو ویشل کیږي:

لومړی: خپلواکې کلمې یا نامقید مورفیمونه

دویم: ناخپلواکې کلمې یا مقید مورفیمونه

دا هره برخه له خپلو ډولونو او ځانګړنو سره در پیژنو:

لومړی برخه: خپلواکې کلمې یا نامقید مورفیمونه

هغه کلمې یا مورفیمونه دي چې په ژبني بهیر کې په آزاده او خپلواکه توګه یوه معنابښندي، لکه: کور، غر، اوبه، ډبره، او نور.

د خپلواکو کلمو ډولونه:

په عامه توګه نومونه، فعلونه او قیدونه د خپلواکو کلمو یا مورفیمونو ډولونه دي.

دلته هره برخه درپیژنو:

لومړی ـ نومونه

نوم: هغه کلمه ده چې بې د زمانې له ارتباط څخه د راز راز څیزونو او پدیدو څرګندونه کوي، لکه: تیږه، قلم، کتاب، ښایست، روغ او....

د نومونو ډولونه:

نومونه پرځلورو لویو ډلو ویشل کیږي: ۱ـ څیزنومونه ۲ـ ستاینومونه (صفتونه) ۳ـ شمیر نومونه (اعداد) ۴ـ نومځي (ضمیرونه)

۱ـ څیزنومونه:

څیز نوم: هغه نوم دی چې نیغ په نیغه د یو څیز یا ښکارندې (پدیدې) نومونه او څرګندونه کوي. دا لاندې ډولونه لري:

الف- ذات نوم: چې په یو حس کیدونکي شي یا څیزپورې اړه لري یا په بله وینا: داسې څیز نومونه چې مونږ یې د خپلو حواسو په واسطه حس کولی شو، لکه: ډبره، هوا، اوبه، ښځه، سړی، او نور.

ب- معنا نوم: چې په نه لمس کیدونکي څیز یا پدیدې پورې اړه لري، لکه: ښکلا، رښتیا، خوښي، عزت، میړانه او نور.

ج- خاص نوم: چې یو ځانګړی څیز، وګړی، ځای یا کومه پدیده نوموي، لکه: کابل، ننګرهار، احمد شاه، بابا، جمیله، او نور.

د- عام نوم: چې داسې څیز یا پدیده نوموي چې ځانګړې یا خاصه نه وي، بلکې ډولونه او ځیلونه لري، لکه: ونه، نجلۍ، هلك، ځاروی او نور.

هـ- جنس نوم: چې په یو نه شمیر یدونکي څیز یا جنس پورې اړه لري، لکه: اوبه، غنم، غوړې، وانښه، سابه او نور.

و- جمع نوم: هغه نوم چې یوه ډله نوموي، لکه: غونډ، ټولنه، لښکر، ولس، قوم، او نور.

ز- آواز نوم: هغه نوم چې طبیعي یا مصنوعي غږونه یا آوازونه نوموي، لکه: درز، دروز، غرب، غروب، خرپ، خروپ او نور.

د نوم او ډوني (ګرداني) اړخونه:

نوم په عمومي ډول له دې لاندې دریو اړخونو څخه ګردانیږي:

الف- د جنس له مخې ب- د عدد له مخې د-د حالت له مخې

(البته نومڅرې یا ضمیرونه برسیره پردوو حالتونو د شخص له پلوه هم ګردانیږي)

الف- د جنس له مخې: دا چې نوم نارینه دی (لکه زمری) یا ښځینه (زمری).

د جنس له مخې نوم په دوه ډوله دي:

ا- نارینه ۲_ ښځینه

دلته ددې دواړو نومونو ځانګړې نښې درپیژنو:

PROPERTY OF ACKU

د نارینه نوم نښې:

نارینه نوم په دې لاندې نښو پیژندل کیږي:

۱ـ چې وروستی آوازیې بیواك(کانسونینټ) وي، لکه: کور، هلك، هیواد، کتاب، قلم او نور.

دیادونې وړ ده چې زیاتره د خپلوانو نومونه. لکه: خور، مور، ترور ... او همدارنګه ځینې نور ښځینه نومونه چې په محاوره کې یې د پای خپلواك غږ غورځولی، لکه ستن، میچن، څنګل، لار، ورځ، وریځ او نور له دې حالت څخه مستثنی دي.

۲ـ ټول هغه نومونه چې د (ی = ay) په غبرك غږ پای ته رسیدلي وي، لکه: سړی، زمری، پردی، لرګی او نور.

۳ـ په (و = u) خپلواك غږ پای ته رسیدلي نومونه، لکه: تالو، سالو، زردالو، چاقو، پټو، ټټو او نور.

۴ـ هغه نومونه چې په زور کې (ə) پای ته رسیدلي وي، لکه: تره، وراره، زړه، نیکه، پسه، لیوه او نور. (البته خوله او چاړه، و یاله، ترله، میره او نور. استثنایي حالت لري)

۵ـ په لنډه (ی = i) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: درزي، موچي، جوالي، چرسي او نور.(خپلوي او جاسوسي استثنایي حالت لري)

۶ـ په اوږد واو (o) پای ته رسیدلي تصغیري نومونه، لکه: سدو، جانو، کاکو، ګلو او نور.

د ښځینه نوم نښې:

۱ـ په (آ = ā) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: آریانا، آسیا، خندا،ژړا، بلا او نور. (کاکا، ماما، ملا او نور استثنایي حالت لري)

٢_ په (a) یا (زور) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: لښته، پزه، ګوته، شونډه، پونده، زنه او نور.

٣_ په زورکي والۍ (ی = ∂y) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: کړکۍ، خولۍ، څپلۍ، چوکۍ، کورنۍ، تورپیکۍ او نور.

۴_ په (ې = e) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: ادې، ناوې، شیدې، مستې.

۵_ په زورکي وال و(∂w) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: کټو، بډو.

ب- د ګڼې (عدد) له مخې:

له ګڼې یا عدد څخه مطلب دادی چې یونوم مفرد دی که جمع. دلته لومړی د نارینه نوم او بیا د ښځینه نوم د جمعې نښې در پیژنو.

د نارینه نوم د جمعې نښې:

١ _ **(ان)** وروستاړی:زیاتره هغه نومونه جمع کوي چې په بیواك غږ پای ته رسیدلي او ساکښ وي، لکه: هلك = هلکان، کب = کبان، مچ = مچان.

٢_ ځینې نومونه چې په خپلواکو غږونو پای ته رسیدلي وي هم په (ان) جمع کیږي، لکه: لیوه = لیوان، کارغه = کارغان، مرغه = مرغان.

٣_ **(ونه)** زیاتره بیواکه، بې سانارینه نومونه جمع کوي، لکه:

سیند = سیندونه، میز = میزونه، ډنډ = ډنډونه، لاس = لاسونه .

۴_ ځینې په (و = aw) غبرګ غږاوزورکي (∂) پای ته رسیدلي نارینه نومونه هم په (ونه) جمع کیږي، لکه: پلو= پلوونه،

کنډو = کنډوونه،منډو = منډونه، تره = ترونه، پسه = پسونه، زړه = زړونه.

۵ـ په (ای = ay) پای ته رسیدلي نومونه، ځینې په (ان) او ځینې د(ي) په وروستاړي جمع کیږي، لکه: ستوری = ستوري، ملګری= ملګري، پسرلی= پسرلي. سړی= سړي.

د (ان) بیلګې: زلمی= زلمیان، سپی= سپیان، کابلی=کابلیان، لمسی= لمسیان.

۶ـ ځینې یو څپه ییز نومونه او صفتونه د زوړکي(ه) په وروستاړي جمع کیږي، لکه: غل= غله، شین= شنه، سور=سره، اوږد = اوږده، مړ= مړه او نور.

زیاتره هغه نومونه او صفتونه هم چې د کلمې په مینځ کې یې (و) وي، هغه (و) له مینځه ځي (الف) ورزیاتیږي او د زوره کي (ه) په وروستاړي جمع کیږي، لکه: پښتون=پښتانه، شپون= شپانه، مور= مارړه، پوخ= پاخه، زوړ= زاړه.

۷ـ ځینې په خپلواك غږ (الف) پای ته رسیدلي نرینه نومونه په " یان" جمع کیږي، لکه ملا= ملایان، میرزا= میرزایان، آشنا= آشنایان.

۸ـ ځینې په خپلواك غږ (الف) پای ته رسیدلي نومونه په "ګان" جمع کیږي، لکه: ماما= ماماګان، کاکا = کاکاګان،بیړا=بیړاګان، لالا= لالاګان.

د ښځینه نوم د جمعې نښې:

۱ـ اوږده " ې" : هغه ښځینه نومونه جمع کوي چې په زور یا زوړکي پای ته رسیدلي وي، لکه: مڼه= مڼې، وړانګه =وړانګې، ډیوه= ډیوې، غرمه = غرمې.

۲_ زوره کي واله "ی" (ay): هغه ښځينه نومونه جمع کوي چې په لنډه (ي) پای ته رسيدلي وي، لکه: ودانې=ودانی، ناروغې= ناروغی، نيکمرغې= نيکمرغی، خپلوې= خپلوی او نور.

۳_ "وې" (we) او "ګانې" وروستاړي هغه ښځينه نومونه جمع کوي چې په "الف" يا اوږده " و" پای ته رسيدلي وي، لکه: ژړا= ژړاوي، خندا= خنداوې نڅا= نڅاوې، بلا = بلاوې. ملاګانې، خنداګانې، نڅاګانې، بلاګانې،پيشو، پيشوګانې.

۴_ ځينې ساکښ ښځينه نومونه چې په زورکي واله"ی" (ay) غږ ګ غږ پای ته رسيدلي وي جمع يې په ګانې کيږي، لکه: ابی= ابی ګانې، څوکی= څوکی ګاني، ځولی= ځولی ګانې، بوډی= بوډی ګانې او نور.

۵_ د معنوي مونثاتو جمعې بې دوده دي، ځينې يې په "يندې" کيږي، لکه: مور= ميندې، خور= خويندې، ترور= تريندې.

خو مور او لور په ځينو ځايونو کې په مورګانې، لورګانې او ځينې يې په لونې جمع کوي او نجلی په نجونې جمع کوي.

ج - د حالت له مخې:

له حالت څخه موخه او مقصد دادی چې نوم په جمله کې د خپل چاپيريال له مخې په کوم حالت کې واقع دی. لکه په دې لاندې جملو کې:

پلوشه راغله.

پلوشې کار وکړ.

په دې پورته دواړو جملو کې "پلوشه" فاعلي حالت لري، خو په لومړۍ جمله کې په اصلي بڼه او په دويمه کې په غير اصلي (پلوشې) په بڼه راغلي ده.

د يادونې وړ ده چې په پښتو ژبه کې د يو نوم حالت د فعلي عمليې او اداتو له مخې څرګندیږي او د حالت نښې يې پايلې يا وروستاړي دي چې په پای پورې يې نښلي.

د حالت له مخې نومونه پر دوو برخو ويشي:

الف - اوښتونکي نومونه ب- نه اوښتونکي نومونه

دلته هره برخه په لنډه توګه درپيژنو:

الف- اوښتونکي نومونه:

۱ـ ټول هغه نومونه چې په (ay) (ی) غبرګ غږ پای ته رسيدلي وي. بدلون مومي:

اصلي حالت	غير اصلي حالت
سړی	سړي
اغزی	اغزي
وری	وري
پردی	پردي

۲ـ ټول هغه نومونه او صفتونه چې د (a) په خپلواک غږ پای ته رسيدلي وي له اصلي حالت څخه غير اصلي حالت ته بدلون مومي:

اصلي حالت	غير اصلي حالت
تخته (تخته پاکه کړه)	تختې (له تختې څخه يې وليکه)
مڼه (مڼه دې وخوړه)	مڼې (په مڼې مړ شوم)
لښته (لښته راوړه)	لښتې (په لښتې يې وواهه)
سترګه (سترګه مې خوږيږي)	سترګې (له سترګې مې اوښکې څې)

۳_ زیاتره هغه نومونه او صفتونه چې د کلمې د مینځ (و) یې لویږي او (a) ورزیاتیږي د کلمې په پای کې د زوړکي (ډ) په زیاتولو سره غیر اصلي حالت ته اوړي.

اصلي حالت	نسبتي یا غیر اصلي حالت
پښتون	پښتانه (ډ)
شپون	شپانه (ډ)
زنګون	زنګانه (ډ)
بیلتون	بیلتانه (ډ)

۴_ ځینې یوځپه ییزنومونه او صفتونه :

اصلي حالت	غیر اصلي حالت
سور	سره (ډ)
شین	شنه (ډ)
مل	مله(ډ)
غل	غله (ډ)

۵_ شخصي نومځري (ضمیرونه):

اصلي حالت	غیر اصلي حالت
زه	ما
ته	تا
دی	ده

۶_ استفهامي نومځري (ضمیرونه):

اصلي حالت	غیر اصلي حالت
څوك	چا
کومه	کومې

۷_ اشاری نومئړي (ضمیرونه)

اصلی حالت	غیر اصلی حالت
نږدې دغه (a)	دغه (a) دغې (e)
لیرې هغه (a)	هغه (a) هغې (e)
لالیرې هوغه (a)	هوغه (a) هغوې (e)

ب- نه اوښتونکي نومونه:

په پښتو کې ځینې داسې نومونه هم شته چې په یوګړي یا مفرده بڼه کې یې هیڅ حالت کې بدلون نه راځي. هغه دادي:

۱_ په " الف" پای ته رسیدلي نومونه، لکه: کاکا، ماما، دادا، سبا.

۲_ په (و،ي، و- U,i,o) پای ته رسیدلي نومونه، لکه: پښتو. تالو، باړخو، سالو.

۳_ د " ی" (ۍ) په غبرګ غږ پای ته رسیدلي نومونه، لکه: کړکۍ. خولۍ، چوکۍ، څپلۍ.

۴_ ځینې هغه نومونه. چې په (a) ختم شوي وي او د شریکو صفاتو په ډله کې دي، هم نارینه او هم ښځینه راځي، لکه: ښایسته، پیاده، ساده، ډاډه، میلمه او نور.

د نوم معنوي حالتونه:

۱_ فاعلي حالت:

چې یو نوم په جمله کې فاعل واقع شي، څه کار او عمل ترې صادر شي، لکه: بریالی کار کوي، توریالی درس لولي، ګلالۍ کالۍ پریمنځي.

په دې پورته جملو کې (بریالی، توریالی او ګلالۍ) فاعلي حالت لري.

یادښت: ټول اوښتونکي نومونه که چیرې په یوه جمله کې د فاعل په توګه راشي، هغه وخت بدلون مومي چې د جملې فعل (مسند) متعدي وي او فعل په تیر مهال کې واقع شوی وي.

۲_ بې واسطې مفعولي حالت:

لکه په دې لاندې مثالونو کې:

اوسمهال	تیر مهال
احمد ماته ډوډۍ پخوي.	احمد ماته ډوډۍ پخه کړه.
زرین پلوشې ته کتاب ورکوي.	زرین پلوشې ته کتاب ورکړ.
شپون تاته رمه پیایي.	شپانه تاته رمه وپوولـه.

په پورته مثالي جملو کې احمد، زرین او شپون فاعل دی، خو"ما"، "پلوشې"، "تا" د جملې بالواسطه مفعول دی.

همدارنګه (ډوډۍ، کتاب، رمه) د جملې بې واسطه مفعول دی.

۳_ بالواسطه مفعولي حالت:

په پښتو ګرامر کې دایوه قاعده ده چې ټول اوښتونکي نومونه که په اوسمهال او تیر مهال کې د بالواسطه مفعول په توګه واقع شي په غیر اصلي بڼه استعمالیږي.

دا لاندې مثالونه وګورئ:

اوسمهال	تیرمهال
زه تاته ډوډۍ پخوم.	ماتاته ډوډۍ پخه کړه.
ګل پانې څانګې ته خط لیکي.	ګل پانې څانګې ته خط ولیکه.
شپون ماته رمه پیایي.	شپانه ماته رمه وپلوله.

په دې پورته مثالونو کې (تا، ګل څانګې، ما) نومونه بالواسطه مفعولي حالت لري په اوسمهال او تير مهال، کې په غير اصلي بڼه اوښتي دي.

له دې توضيحاتو څخه دې نتيجې ته رسيږو چې اوښتونکي نومونه که چيرې په بالواسطه مفعولي حالت کې واقع شي. په غير اصلي بڼه استعماليږي. همدارنګه که چيرې دغه تغييرمنونکي نومونه د بې واسطه مفعول په توګه واقع شي، نو په اصلي بڼه استعماليږي. لکه په دې مثالونو کې:

اجمل ګل پانه وينې	احمد ګل پانه وليدله
ايمل ننګيالی وينې	ايمل ننګيالی وليد

په دې پورته بيلګو کې (ګل پانه، ننګيالی) بې واسطه مفعولي حالت لري او په اصلي حالت راغلي دي.

۴_ ندايي حالت:

که چېرې يو نوم ته غږ او يا بلنه شوې وي هغه منادې ګڼل کيږي او حالت ته يې ندايي حالت وايي.

۱_ په دې حالت کې د نورو حالتونو برعکس ټول هغه نومونه چې په بيواکه غږ (کانسونينټ) ختم شوی وي، نو په ندايي حالت کې ددغو نومونو په پای کې د (a) غږ يا زور زياتيږي لکه:

ای احمده! دلته راشه.

ای هلکه! شور او ځوږ مه کوه.

ای ګرانه! تاته وايم.

۲_ ټول هغه نومونه چې په (ی=ay) غبرګ غږ پای ته رسيدلي وي په ندايي حالت کې د هغه نوم په آخر کې هم (a) ورزياتيږي. لکه:

ای زلمیه! ماته غوږ شه.
ای توریالیه! ښوونځي ته ولاړشه.

۳_ هغه نومونه چې د (a) په خپلواک غږ پای ته رسیدلي وي په ندایي حالت کې د هغه نوم په پای کې اوږده (ې = e) زیاتیږي. دا لاندې بیلګې وګورئ:

ای پیغلې! د خپلې کورنۍ پت او عزت وساته.
ای ګل پانې! لوښې پریمنځه.

۴_ ټول معنوي مؤنثات که په ندایي حالت کې واقع شي په پای کې یې اوږده (ې) ورزیاتیږي.

لکه: ای موری ! د ډېر درناوي وړ یې.
ای خورې! ټولو ژوند چاروته پام کوه.
ای لورې! دلته راشه.

د یادونې وړ ده چې پاتې نور نومونه هغسې چې په نورو حالتونو کې بدلون نه مومي په ندایي حالت کې هم پکې څه بدلون نه راځي.

۵_ اضافي حالت:

هغه نوم چې یو څه ورپورې اړه ولري مضاف الیه ګڼل کیږي او اضافي حالت لري. یا په بله وینا: که یو نوم په جمله کې مضاف الیه واقع شي او یا یو څه ورپورې اړوند وي، اضافي حالت لري.

د یادونې وړ ده چې په یو اضافي ترکیب کې ړومبی (د) د اضافت توری، ورپسې مضاف الیه او وروستی نوم مضاف دی. دا لاندې بیلګې وګورئ:

د احمد قلم ښکلی دی.
د څاه اوبه سړې دي.

د باغ ګلان غوړيدلي دي.

په دې پورته بيلګو کې (احمد ، څاه، باغ) مضاف اليه واقع شوي دي چې اضافي حالت لري او يو څه ورپورې اړوند دي.

يادونه: ټول اوښتونکي نومونه که په يوه اضافي ترکيب کې د مضاف اليه په توګه واقع شي په غير اصلي بڼه استعماليږي، که څه هم دغه ترکيب توصيفي وي که ملکي او يا هم تشبيهي.

بيلګې:

د بيلتانه (ـَ) شيبې

د ژوندانه (ـَ) ستونزې

د زرينې (e) بده برخه

۶_ ظرفي يا مکاني او زماني حالت:

هغه نوم چې د يوه کار ظرف وګرځي يا پرې يو کار اړه پيدا کړي او په دې توګه بدلون وموميِ.

دغه بدلون (په _ کې) ، (پر_ باندې)، (پر_ سربيره)، تر_لاندې) ، (تر _ پورې)، سر_ تر) څخه رامينځته شوی دی، لکه په دې لاندې بيلګو کې:

په کوهي کې، پر غره باندې، تر زنې لاندې، تر غرمې پورې، تر ننګرهاره، پر اندېښنې سربيره او....

د يادونې وړه کوم نوم چې په دغه حالت کې خپلې بڼې ته بدلون ورکړی وي، اوښتی نوم بلل کيږي او"مغيره حالت" لري. که يې اوښتون نه وي موندلی، نو اصلي نوم ورته وايي او حالت يې" اصلي حالت" دی.

دويم - ستاينوم (صفت)

ستاينوم يا صفت په خپلواك ډول څه نه نوموي، خو د يو څه حالت څرنګوالى ښيي، يعنې دا چې صفت د نوم معنا ښه څرګنده، محدوده او روښانوي، لکه: روغ، ناروغ، ښکلى، بدرنګ، غښتلى، کمزورى، تور، سپين او نور.

په پښتو ژبه کې صفت د درې ژبې په څير د لوړتيا، د پورتنو يادلړوالي او ډېروالي، سستوالي يا توندوالي بيلابيلې ښکاره درې ګونې درجې نه لري. په درې ژبه کې دا درجې (به، بهتر، بهترين يا بزرګ، بزرګتر، بزرګترين)، خو په پښتو ژبه کې د نورو بشپړو کلمو او اداتو په ملتيا خپل پورتنه يادرجې او طبقې ښکاره کوي، لکه: (ښه، ډېر ښه، لاډېر ښه، خورا ښه، تر ټولو ښه، يا سپين ، ډېر سپين، خوراسپين تر ټولو سپين، زښت زيات سپين، او داسې نور.

په پښتو ژبه کې د درې خلاف صفت تر موصوف د مخه راځي لکه:

تورکميس، ښه هلك او نور.

د ستاينوم (صفت) ډولونه:

صفت په دوه ډوله دى: عادي صفت ـ پرتليز يا مقايسوي صفت.

١ـ عادي ستاينوم (صفت) :

هغه دى چې د يو څيز يا شخص حالت او څرنګوالى په مطلق او کلي ډول بيانوي. پرته له هغه چې په مقايسوي شکل وي يا د هغه درجه او اندازه وښيي، لنډه په لنډه يې ستايي، لکه:

توره نجلۍ، روغ هلك، ښکلى بڼ.

۲_ مقايسوي يا تفضيلي ستاينوم (صفت):

هغه دی چې موصوف يا موصوفات له يو بل شخص، يا څيز سره او يا له نورو اشخاصو او شيانو سره پرتله کوي. يعنې داچې د موصوف يا موصوفاتو اندازه او درجه د يوه يا څو همنوعه افرادو په نسبت څرګنده کړي. په دوو بڼو تر سره کيږي:

الف- د (ډېر) ادات په ملګرتيا، لکه: دا قلم تر هغه قلم ډېر ښکلی دی. احمد له مانه ډېر هوښيار دی.

ب- پرتليز يا مقايسوي د (خورا يا لا) اداتو په ملګرتيا، لکه په دې بيلګو کې: دا قلم تر هغې خورا ښکلی دی. زما ورور تر مالا هوښيار دی.

د صفت او موصوف ګرداني سمون (مطابقت)

په پښتو ژبه کې صفت له خپل موصوف سره د جنس، عدد او حالت له پلوه ګردانيږي.

صفت د خپل ستايلي شوي (موصوف) سره د ګرداني اړخونو له کبله په عمومي توګه په دې لاندې دريو ډلګيو ويشل کيږي:

الف: هغه ستاينومونه(صفتونه) چې له خپل موصوف سره د نارينه جنس د عدد له پلوه بشپړ سمون نه لري، خو د ښځينه جنس له موصوف سره پوره سمون لري. لکه په دې لاندې بيلګو کې:

نارينه		ښځينه	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
شين ختکی	شنه ختکي	شنه هندوانه	شنې هندوانې
ښکلی کتاب	ښکلي کتابونه	ښکلي کتابچه	ښکلي کتابچې
ښه هلك	ښه هلکان	ښه نجلۍ	ښې نجونې
ښه قلم	ښه قلمونه	ښه تخته	ښې تختې

ب- هغه ډله ستاینومونه (صفتونه) چې د نارینه جنس او ښځینه جنس د عدد له مخې له خپل موصوف سره پوره سمون ښيي، لکه په دې لاندې بيلګو کې:

نارینه		ښځینه	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
شين بڼ	شنه بڼونه	شنه لمنه	شنې لمنې
تريو انار	تروه انارونه	خوږه مڼه	خوږې مڼې
پوخ خټکی	پاخه خټکي	اومه هندوانه	اومې هندوانې
اوږد لاس	اوږده لاسونه	لنډه ګوته	لنډې ګوتې

ج: ځينې شريك صفتونه دي چې له خپل موصوف سره د جنس او عدد له پلوه سمون نه ښيي. دا لاندې بيلګې وګورئ:

نارینه		ښځینه	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
وړوکی هلك	وړوکي هلکان	وړکی نجلی	وړې نجونې
ساده سړی	ساده سړي	ساده ښځه	ساده ښځې
پياده هلك	پياده هلکان	پياده نجلی	پياده نجونې

دريم- نومڅری(ضمير)

نومڅری هغه کلمه ده چې د نوم نمايندګي او ښکارندويي کوي، يا د نوم پرځای استعماليږي چې د مخه د هغه يادونه شوې وي، د نومڅري دنده په خبرو کې د تکرار مخنيوی دی.

له نورو نومونو (ستاينوم، ځيز نوم او شمير نوم) سره د نومڅري (ضمير) توپير دادی چې دا پر دري ګونو اړخونو (جنس، عدد او حالت)

سربيره د وګړي (شخص) (لومړی، دويم، دريم) له مخې هم اوړون مومي.

د نومځري ډولونه:

نومځري د شکل او چار له مخې دا لاندې ډولونه لري:

۱ـ ځانګړي نومځري (شخصي ضميرونه)
۲ـ ملکي يا اضافي نومځري
۳ـ اشاري نومځري
۴ـ استفهامي نومځري
۵ـ اشتراکي نومځري
۶ـ اداتي نومځري
۷ـ ارتباطي يا اړيکنومځري

دا هر ډول له خپلو بيلګو سره در پيژنو:

۱ـ ځانګړي يا شخصي نومځري:

دا نومځري دا نسان يا شخص د نوم ځای نيسي، په دوه ډوله دي:

الف - غښتلي يا مفصل

ب- کمزوري يامتصل

الف- غښتلي نومځری:

اشخاص	مفرد			جمع
۱	اصلي حالت	غير اصلي حالت		اصلي حالت
	زه	ما		موږ
۲	ته (ə)	تا		تاسې
۳	نارينه	دی هغه /a/	ده /ə/ هغه/ ə /	دوی
	ښځينه	دا هغه / /	دې / e / هغې/ e /	هغوی

ب- کمزوری نومځری: هغو نومځروته وايي چې په خپلواکه توګه کومه معنا نه لري، کله چې له يو نوم سره وکارول شي خپل مفهوم او معنا ځرګند وي.

په دې لاندې جدول کې يې له بيلګو سره وګورئ.

شخص	مفرد	جمع
۱	مې (قلم مې راکړه)	مو (کتاب مو واخيست)
۲	دې (کتابچه دې واخله)	يې (کتابچه يې راکړه
۳	يې(قلم يې واخيست)	يې(قلمونه يې واخيستل)

۲_ ملکي يا اضافي نومځري (ضميرونه):

هغه نومځري دي چې د يو څيز ملکيت او اړوندتيايا متعلقيت ښيي. په دې لاندې جدول کې يې له بيلګو سره درښيو:

اشخاص	مفرد		جمع
۱	زما(زما قلم راکړه)		زمونږ (زمونږ قلمونه راکړه)
۲	ستا (ستا کتابچه چیرې ده)		ستاسې (ستاسې کتابچې چیرې دي)
۳	نارینه	ده (ه) (ده کتاب چېرې دی)	ددوي (ددوي کتابونه چیرې دي)
	ښځینه	ددې (e) (ددې پرونې چیرې دی)	ددوی (ددوی پرونې چیرې دي)

۳_ اشاري نومڅري (ضمیرونه):

هغو نومڅروته وایي چې اشخاصو، څیزونو یا شیانو ته اشاره کوي. دغه نومڅري هم د نوم پرځای کارول کیږي. اشاري نومڅري په پښتو ژبه کې له شخص عدد او حالت سربیره د دریم وګړي (شخص) له پاره دواټن یا فاصلې له مخې ګردانیږي. دا نومڅري په دې لاندې جدول کې درښودل کیږي:

	مفرد			جمع	
	واټن (فاصله)	اصلي حالت	غیر اصلي حالت	اصلي حالت	غیر اصلي حالت
لنډ	دغه (a)	دغه (a)	(a)دغه	دغه (a)	دغو
		دغه (a)	(e)دغې	(a)دغه	دغو
لرې	هغه (a)	هغه (a)	هغه (ه)	هغه (a)	هغو
	هغه (a)	هغې (e)	هغه (a)	هغه (a)	هغو
لالرې	هوغه (a)	هوغه (a)	هوغه (a)	هغه (a)	هغو
	هوغه (a)	هوغې (e)	هوغه (a)	هوغه (a)	هوغو

اصلي حالت: د لازمي فعل سره د فاعل په توګه په ټولو زمانو کې د متعدي فعل سره د فاعل په توګه یوازې په اوسمهال کې.

غیر اصلي حالت: په متعدي ماضي کې د فاعل په توګه د غیر مستقیم مفعول په توګه په ټولو زمانو کې، په اضافي حالت کې د مضاف الیه په توګه.

۴_ استفهامي نومځري:

هغه نومځري دي چې له دویم شخص څخه د یو وګړي (شخص) یا یو څه د پوښتنې له پاره کارول کیږي. دغه نومځري د شخص، زمان، ځای، څرنګوالي او څومره والي له مخې دا لاندې ډولونه لري:

۱_ کوم (کومه): د شخص یا اشخاصو او شیانو له پاره راځي. دوګړي یا وګړو، څیز یا څیزونو نه مخکې راځي او د هغو څومره والی، څرنګوالی، نقش او یا نور څه پوښتي. دغه ضمیر له حالت څخه سربیره د جنس له پلوه هم ګردانیږي، لکه په دې لاندې بیلګوکې:

کوم سړی راغی؟	کومه ښځه راغله؟
کوم سړي وویل؟	کومې ښځې وویل؟
کومو سړیو کار وکړ	کومو ښځو کالي پریمینځل

۲_ څوک - چا: د هغه شخص یا اشخاصو له پاره استعمالیږي چې څه یې کړي وي، یا یې کوي، یا پرې څه شوي وي یاکیږي.

اصلي حالت یې (څوک) او مغیره حالت یې (چا) دی. د استعمال د مواردو څو بیلګې یې وګورئ:

_ له لازمي فعل سره د فاعل په توګه په ټولو زمانو کې.

_ د متعدي فعل سره د فاعل په توګه یوازې په اوسمهال کې.

_ د مستقیم مفعول په توګه په ټولو زمانو کې.

او غير اصلي (چا) يې په دې مواردو کې کاريږي:
ـ د متعدي ماضي په فاعلي حالت کې،
ـ دغير مستقيم مفعول په توګه په ټولوزمانو کې.
د دواړو بيلګې دادي:
څوك راغی (راغلل)؟ څوك راغله (راغلې)؟
چا وويل؟ چا ووهلم؟

۳ـ څه: زياتره د يو څيز ياوګړي ترمخه راځي او څومره والی، څرنګوالی، نقش يا نور څه يې پوښتې: لکه: داڅه دي؟ څه دې يوړل؟ څه دې وخوړل؟

۴ـ کله: وخت او زمان پوښتې او نه ګردانيږي، لکه: کله ځې؟ کله تللی وې؟

۵ـ چيرې؟ د ځای پوښتنه کوي او نه ګردانيږي، لکه:
چيرې ولاړشم؟ چېرې تللی وې؟ چېرې کار کوې؟

۶ـ څنګه: چې د يو شخص، د يو عمل يا شي د څرنګوالی پوښتنه کوي، لکه:
څنګه راغلې؟ څنګه دې يوړ؟ څنګه ولاړې؟

۷ـ څو: چې د اشخاصو يا شيانو د شمير پوښتنه کوې او هميشه د جمعې په بڼه استعماليږي، لکه: څو نجونې راغلې؟ څو کتابونه دې واخيستل؟ څو هلکان پاتې دي؟

۸ـ څومره: زياتره دوګړو او شيانو شمېر او د جنس څرنګوالی، کيفيت، مقدار او درجه پوښتې، لکه: څومره هلکان راغلل؟ څومره اوړه دې واخيستل؟ څومره بڼه دي؟

۹ـ ولې: چې د يو عمل او پيښې د سبب او عامل پوښتنه کوي، لکه:
ولې راغلې؟ ولې ځې؟ ولې ژاړې؟ ولې نه راځې؟

۵_ پلوي يا سمتي قيدي نومڅري (ضميرونه)

هغه نومڅری دی چې د اشخاصو له پلوه د يو عمل او فعل سمت او لوری ښيي.

دا لاندې دري ښې لري. چې هره يوه يې د يوه شخص يا ډېرو اشخاصو ښکارندويي کوي(را_ در_ ور)

را: د متکلم يا لومړی شخص لوری ښيي.

در: د مخاطب يا دويم شخص لوری ښيي.

ور: د غايب يا دريم شخص لوری ښيي.

دغه نومڅری هميشه د (تلل) لازمي فعل په سر کې لويږي، لکه: راځم، درځم، ورځم.

۶_ مبهم نومڅري (ضميرونه)

دا نومڅری د يو ناټاکلي نا معين وګړي له پاره راځي او په لاندې ډول دي:

هر: زياتره د يو ګړي (مفرد) له پاره راځي او د جنس او حالت له مخې اوړون مومي، لکه: هر سړی، هرې ښځې، هر ځوان. هره پيغله.

په مغيره حالت کې د جمعې له پاره. لکه په دې بيلګو کې:

په هرو لسو کې دې يو راشي. په هرو پنځو ورځو کې يو ځل ښارته ځم.

بل: يوازې د شميريدونکي يوګړي (مفرد) نوم پرځای راځي. د جنس او حالت له مخې اوړون مومي، لکه: بل هلك، بله نجلی، بل کتاب، بله کتابچه.

نور: د جنس نوم او جمعې ښکارندويي کوي. د جنس او حالت له پلوه ګردانيږي. لکه: نور سړي، نورې ښځې، د نورو پيغلو، د نورو هلکانو.

ټول: دا هم د نور په څير په جنس نوم او جمعې پورې اړه لري د جنس او حالت له مخې اوړون مومي. لکه: ټول زده کوونکي، د ټولو زده کوونکو، ټوله بوره، ټول غنم.

همدارنګه ځينې، هيڅ او څوک هم مبهم نومڅري دي، لکه: ځينې هلکان، ځينې نجونې، هيڅ هلك، هيڅ نجونو. څوک سره له دی چې استفهامي ضمير دی يو مبهم ضمير هم دی، لکه: څوك نشته.

د يادونې وړ ده چې څوك په اصل کې هيڅوك دی چې (هی) يې لويدلې ښکاري.

۷_ اشتراکي نومڅري(ضميرونه):

دا نومڅري هم د نوم پرځای کارول کيږي څرنګه چې د لومړي، دويم او دريم شخص د مفرد او جمعې له پاره يو ډول استعماليږي، ځکه نو ورته اشتراکي ضميرونه وايي. دا ضمير د جنس او حالت له مخې ګردانيږي، لکه: بزګر خپل کار کوي، خپل کار دې کوه، خپله لار دې وهه، ځينې خلك خپل ځان نه پيژني.

څلورم - شمير نوم (عدد اسم)

عدد هغه کلمه ده چې په خپلواك ډول څه نه نوموي، خو په يو څيز نوم پورې اړه لري، يا په بله ژبه عدد هم د صفت په څير په خپلواك ډول کومه نومونه نه کوي، خو شمير نوم، د صفت په څير څرنګوالی نه ښيي، بلکې شمير (تعداد) او پورواليی (تدريج) ښيي، لکه: يوه، دوه، دري، يا لومړی، دويم، دريم.

شمير نوم يا عدد دا لاندې ډولونه لري:

۱_ اصلي يا آرشمير(عدد): لکه: يو، دوه، دري، څلور، پنځه او نور.

۲ـ پورې شمیر(وصفي یا رتبي عدد):چې د خپل شمیرلي پورې او پورې ښیي، لکه: لومړی، دویم، دریم، څلورم، پنځم او نور.

۳ـ وړې شمیر(کسري عدد): چې داړوندې څیز ماتوالی او برخه والی ښیي، لکه: یو پردوه، دوه پرځلور، دري پردوه، شپږ پراووه.

۴ـ ویش شمیر (انقسامي عدد): چې داړوندو څیزنومونو ویشنه او جوړه جوړ کول څرګندوي او تل په ډېر ګړو څیزنو مونو پورې اړه لري، لکه: یو یو، دوه دوه، دري دري، څلور څلور او نور.

۵ـ اټکل شمیر (تخميني عدد): د یو شمیرل شوي څیز نوم پرځای غبرګ غبرګ څیزنومونه ښیي او یو هم نه ټاکي، لکه:

یو دوه، یو دري، دوه دري، دري څلور، لس شل، شل دیرش، پنځوس شپیته.

د شمیر نوم او شمیرلي (عدد او معدود) ګرداني سمون:

په پښتو ژبه کې شمیر(عدد) تر شمیرلي (معدود) دمخه راځي او لږو ډېرو ورسره اوړون مومي یا په بله وینا ګردانیږي، لکه:

یو غل، یوه غله، یو قلم، یوه کتابچه.

دوه غله، دوې غلې، دوه قلمونه، دوی کتابچې.

د یوه غله، د څلورو غلو.

قیدونه

قیدونه هغه کلمې یا ژبنې توکي دي چې په یوه جمله کې د فعل معنا څرګندوي، یا په بله وینا: قیدونه هغه ژبنې عناصردي چې د یو فعل د پیښدلو څرنګوالی ښیي. همدا څرنګوالی د فعل د پیښیدو ځای یا مهال ټاکي او یایې څرګندتیا، اړوندتیا، ټینګار او داسې نورې ځانګړې څرګندوي.

په پښتو کې قیدونه په دوو ډولونو: اصلي او غیر اصلي یا نه ګردانیدونکو او ګردانیدونکو باندې ویشل شوي دي. چې دلته یې هر ډول په ځانګړې توګه در پیژنو:

الف- اصلي یا نه ګردانیدونکي قیدونه

نه ګردانیدونکي قیدونه په دې لاندې ډولونو ویش دي:

۱_ د زمان او مهال قید: چې دوخت او مهال له مخې د یو فعل پیښیدنه ښیي. لکه: اوس، دمخه، پخوا، وړاندې، سملاسي، وړمه ورځ، وړمه شپه، پرون ورځ، نن، سبا، دوخته، ناوخته، سهار، غرمه، سږ کال، پروسږکال، وړم کال، کال ته، بل کال ته، . لمرخاته، لمرپریواته او نور.

۲_ د ځای یا مکان قید: چې د یو فعل پیښیدنه د ځای او چاپیریال له مخې څرګندوي. لکه: دلته، هلته، مخکې، وروسته، شاته، مخ ته، ښکته، پورته، لاندې، باندې، اخوا، دیخوا، له لیرې، له نیژدې، مخ ښکته، مخ پورته، له پاسه، له لاندې او نور.

۳_ څرګندوني او ټینګار قیدونه: چې د یو فعل د پیښیدنې د څرګندتیا حالت یا ټینګار ښیي، لکه: په ښکاره، په پټه، په ځغرده، په ډاګه، په میړانه، په نره، په خړو سترګو، په جګو سترګو، زړه نازړه، په ناسته، په ولاړه، په منډه، هرومرو، خوشې په خوشې، څه نا څه، لږو ډېر، په کلکه، په ټینګه، غاړه په غاړه او نور.

ب- غیر اصلي یا ګردانیدونکي قیدونه:

ځینې، داسې قیدونه هم شته چې کله له لازمي فعل سره راشي، هلته بیا د جملې د فاعل له پاره تصریف کیږي، خو که له متعدي فعل سره راشي په دغسې حالت کې بیا د جملې د معفول لپاره تصریف کیږي.

د یادونې وړ ده چې دغه تصریف د جنس، عدد او شخص له مخې تر سره کیږي.

۱_ له لازمي فعل سره:

نا تیره زمانه	تیره زمانه
(مفرد) زه (نارینه) درومم درومد ګرځم	زه (نارینه) درومد ګرځیدم
(جمع) زه(ښځینه ، مونځ) درنده درنده ګرځم	زه(ښځینهٔ مونځ) درنده درنده ګرځیدم.
موږ (نارینه) درانده، درانده ګرځو	موږ(نارینه) درانده درانده ګرځیدو
موږ(ښځینه) درندې درندې ګرځو	موږ (ښځینه) درندې درندې ګرځیدو

همداسې ترپایه په (ته، تاسې، دغه...) کې هم ګردانیږي.

یادښت: په پورته بیلګو کې فعل لازمي دی او قید (درومد ، درومم) دجملې د فاعل له پاره تصریف شوی دی.

٢_ له متعدي فعل سره:

نا تيره زمانه	تيره زمانه
(مفرد) تورما (نارينه) پوخ پيژني	تور زه(نارينه) پوخ پيژندلم.
تورما(ښځينه) پخه پيژني	تور زه(ښځينه) پخه پيژندلم
(جمع) تور مور(نارينه) پاخه پيژني	تور مور(نارينه) پاخه پيژندلو
تور مور(ښځينه) پخې پيژني	تور مور(ښځينه، پخې پيژندلو

همداسې ترپايه په (تا ، تاسې، دغه...) کې هم ګردانيږي.

يادښت: په پورته بيلګو کې فعل متعدي دی او قيد (پوخ) د جملې د مفعول له پاره تصريف شوی دی.

له پورتنيو دواړو ډولو بيلګو څخه څرګنديږي چې ځينې قيدونه هم تصريف کيږي، په دې مفهوم کله چې فعل لازمي وي قيد د جملې د فاعل له پاره د جنس او عدد له پلوه تصريفيږي او کله چې د جملې فعل متعدي وي، نو هلته بيا قيد د جملې د مفعول لپاره د جنس او عدد له مخې ګردانيږي.

په ځينو ګرامري آثارو کې د قيدونو په مشهورو ډولونو(مکاني، زماني، څرګندي او ټينګاري) برسيره د شك قيدونه، دهيلې او تمنا قيدونه، د پوښتنې قيدونه او د نتيجې قيدونه هم معرفي شوي دي.

مصدر يا کړ نومونی

هغه ژبني توکي دي چې فعل نوموي، او د نوم په څير له زماني ارتباط او اړوندتيا څخه آزاد دي. يا په بله ژبه دا چې مصدر د يو څه کړنه او

پیښیدنه څرګندوي، نو د کړنې او پیښیدنې نوم دی، نه د فعل اصل او منشاء یا، ځکه د کړیا فعل اصل او بنسټ هماغه فعلي ریښه ده چې پخپله مصدر تړې د (ل) په ورښلولو جوړیږي.

د جوړښت له مخې د مصدر ډولونه:

په پښتو کې د جوړښت له مخې مصدر په پنځو ډولونو پیژندل شوی دی:

لام والا، ول والا، یدل والا، کول والا او کیدل ولا مصدرونه.

۱ـ لام والا مصدرونه: چې مصدري ښښه پکې " ل" وي. په یو توکیزاو دوه توکیز ویشل شوی دي، لکه په دې لاندې بیلګو کې: کول، شړل، موندل، (یوتوکیز) او تیروتل ،پرې یوتل، پریښودل، (دوه توکیز)

۲ـول والا: هغه مصدرونه دي چې په (ول) پای ته رسیدلي وي یا په بله وینا: مصدري ښښه یې (ول) وي، لکه: غورځول، تښتول، خندول، ژړول او نور.

۳ـ یدل والا: چې په یدل پای ته رسیدلي یا په بله وینا مصدري ښښه یې (یدل) وي، لکه: تښتیدل، غورځیدل، ګرځیدل، ژړیدل او نور.

۴ـ کول والا: چې په پای کې د " کول" په یو ځای کولو سره یوه کلمه جوړه شي. لکه: پخلا کول، پورته کول، پورې کول او نور.

۵ـ کیدل والا: چې په پای کې یې (کیدل) راغلی وي، یا په بله وینا مصدري ښښه یې (کیدل) وي، لکه: پخلا کیدل، باندې کیدل، پورې کیدل او نور.

د معنا له مخې د مصدر ډولونه:

(الف) لازمي مصدرونه(ب) معلوم متعدي مصدرونه(ج) متعدي مجهول مصدرونه(د)حکمي متعدي مصدرونه

الف- لازمي مصدرونه: هغه مصدرونه دي چې د فعل شته والی يې يوازې په ځيز، يعنې په يو فاعل پورې اړه لري، لکه: (تلل، پاڅيدل).

ب- معلوم متعدي مصدرونه: هغه مصدرونه دي چې د فعل د موجوديت له پاره يو بل ځيز، يعنې مفعول ته هم اړه لري. په هغه صورت کې چې فاعل يې معلوم وي.

معلوم متعدي مصدر يې بولي، لکه: ټړل، پاڅول، پخلا کول.

ج- متعدي مجهول مصدرونه: هغه مصدرونه دي چې د فعل د بشپړتيا او پوره کيدو له پاره يې دوه ځيزونه، يعنې مفعول او فاعل ضرور وي، خو فعل لفظاً مفعول ته منسوب وي، لکه: (ټړل کيدل، پاڅول، کيدل) په دې جملو کې: سليم ټړل کيږي، محمود پاڅول کيږي.

دلته فعلونه فاعل او مفعول غواړي.

د_ حکمي متعدي مصدرونه: په پښتو کې ځينې مصدرونه شته چې د معنا او مفهوم له مخې لازمي او د لفظ او استعمال له مخې د متعدي مصدرونو حکم لري، نو حکمي متعدي مصدرونه يې بولي. بيلګې يې:

خندل، ژړل، نڅل، لمبل، ټوخل او نور دي.

یادښت: ځینو ګرامر لیکونکو مصدرونه په ساده او مرکبو هم ویشلي دي او د هغو په پیژندنه کې یې لیکلي دي چې:

ساده مصدرونه هغه اصلي مصدرونه دي چې په یوازې ډول استعمالیږي، لکه: خوړل، تړل، وړل، شړل، او نور. او مرکب مصدرونه هغه دي چې له یوې بلې کلمې (نوم، صفت، قید او...) سره له یو ځای کیدلو څخه جوړیږي، لکه: ۱ـ (له نوم سره): کارکول، سروهل، ناري وهل او نور.

۳ـ (له صفت سره): برکیدل، لرکیدل، سورکیدل، پخلاکیدل، مروریدل او نور.

۲ـ (له قید سره) ناوخته کیدل، بیځایه کیدل او نور.

په اوسنۍ ګرامر لیکنه کې، چې د معاصري ژبپوهنې په رڼا کې تر سره کیږي، د مصدر اصطلاح د فعل د صدور ځای نه، بلکې یوه مشتقه کلمه ګڼل کیږي او یادیوکار نوم دی چې د سرته رسیدو وړوي، نو له همدې امله هغه ته د فعل نوم وایي، نه مصدر.

فعلونه

فعل هغې کلمې ته وایي چې په یوه زمانه یا ټاکلي وخت کې د یو کار یا یوې پېښې په کیدو یاد یو حالت په راڅرګندیدو دلالت کوي.

یو فعل معمولاً دري مطلبه ښکاره کوي:

۱ـ دا چې یو چا یا یوشي څه وکړل، لکه: احمد خط لیکي.

۲ـ په یو چا یا یو شي باندې څه وشول، لکه: خط ولیکل شو، ډوډۍ وخوړل شوه.

۳ـ دا چې یو څوك یا یو شی څرنګه دی، لکه: خط لیکل شوی دی، ډوډۍ خوړل شوې ده.

فعل یو پراخ مفهوم لري او بیلابیل موضوعات په خپله پراخه لمنه کې رانغاړي.

لکه څنګه چې په یوه زمانه کې د یو کار او پېښې په کیدلو او پېښیدلو دلالت کوي، په یوې مشخصې او ټاکلې زمانې پورې اړه لري، ځانګړې ریښې لري، د اشتقاق ځانګړې بڼې، صورتونه او وجهې لري. فعل دوینایوه مهمه برخه جوړوي چې له هغې څخه پرته جمله نیمګړې ګڼل کیږي او کله کله فعل په یوازې ځان هم یو جمله جوړوي.

دلته د فعل په بیلابیلو اړخونو، ځانګړنو او ډولونو بحث کوو:

د فعل ریښه (Verbstem):

ریښه د فعل اصل او بنسټ دی او په عام ډول ریښه هغې کلمې ته ویل کیږي چې تاړي (وندونه) په هغې پورې نښلي او نوې کلمې جوړوي. ریښه

نه یوازې د فعل په برخه کې، بلکې د نومونو په برخه کې هم د څېړنې وړده. موږ وینو چې ترکیبي نومونه هم ریښه او تاړې دواړه لري، لکه د (غم، هنر، شته) له ریښو سره، (جن،مند) د تاړو په یو ځای کیدو سره (غمجن، هنرمند ، شتمند) جوړ شوي دي.

د فعل ریښه، لکه: (خور) یا خوړ) په خورم، خورو، خورې او (وخوړ، خوړای، خوړلای) او داسې نورو کې. (خوړ) هم له اصله (خور) دی چې د تیر مهال (ماضي) له پاره یې(ر) په (ړ) اوښتې ده.

فعلي ریښه په دوه ډوله ده:

۱ـ لومړۍ یا اوسمهاله (حال) ریښه لکه: (خور) او (وین) په خورم، وینم کې.

۲ـ تیر مهاله(ماضي) ریښه، لکه: (خوړ) او (لید) په وخوړ او ولیدکې، البته مستقبل فعل کومه ځانګړې ریښه نه لري، بلکې هماغه حال یا لومړۍ ریښه ورسره شریکه ده.

د فعل مخکړ (Preverb):

دا د فعل یو بشړوونکی یا ټاکونکي توک،(جز) دی، لکه(کښې) په کښیناستل او کښیوتل کې. او (پرې) په پریوتل او پریولل یا پریمنځل کې.

د فعل ګرداني اړخونه:

په پښتو ژبه کې یو فعل په عمومي توګه د لاندې اړخونو له مخې ګردانیږي:

۱ _ دشخص له مخې:

لکه چې څرګنده ده هر فعل خپل فاعل لري چې یو کار یا حالت ورته منسوبیږي، فاعل که خپله وینا کوونکی وي (لومړی شخص متکلم) که اوریدونکی وي (دویم شخص _ مخاطب) او که یو بل څوک وي (دریم شخص _ غایب) ورته ویل کیږي.

په پښتو ژبه کې فعل شخص څرګندوي. په فعل کې د شخص دارخ څرګندیدل هماغه تصریفي وروستاړي دي چې د فعل په اصلي ریښې پورې نښلي، لکه:

زه لیکم (لومړی شخص)
ته لیکې (دویم شخص)
دا لیکي (دریم شخص)

په دې بیلګو کې (ام، ې، ي) د لومړي، دویم او دریم (متکلم، مخاطب، غایب) شخص څرګندویي کوي.

۲_د ګڼې یا عدد له مخې:

دا چې وګړی مفرد (یوګړی) دی که ډېر وګړي (جمع).

په پښتو ژبه کې د شخص د ارخ څرګندیدل د مفرد او جمعې یا یوګړي او ډېرګړي بڼې لري. لکه: هلك راغی، هلکان راغلل، او یا لکه دا لاندې بیلګې:

مفرد	جمع
زه کار کوم	موږ کار کوو
ته کار کوې	تاسې کار کوئ
دی کار کوي	دوی کار کوي

۳_ د جنس له مخې:

دا چې وګړی (شخص) نرینه وي که ښځینه په پښتو کې یوازې د دویمې ریښې په اوړون (ګردان) کې یې دغه توپیر لیدل کیږي، لکه: پلوشه راغله، توریالی راغی.

په پورته بیلګو کې زور (a) او (ی) د جنس توکونه دي.

۴_ د فعل وجه:

فعل د وینا یا کلام د اقتضا او غوښتنې له مخې بیلابیلې بڼې ځانته خپلوي. له همدې امله فعل د بیان د طرز او بڼې له پلوه په دې لاندې بیلابیلو ډولونو ویشل کیږي:

الف - اخباري وجه: چې د یو کار کیدل، د خبر په دودبیانوي، لکه: حامد بریالی شو، توریالی راغلی دی.

ب _ امري وجه: چې د یو کار کیدل د امراوحکم په شکل څرګندوي، لکه بازار ته ولاړ شه! دلته راشه! قلم مې راکړه!

ج_ التزامي یا احتمالي وجه: فعل په دغه صورت کې د یو کار سرته رسیدل د شك او تردید په بڼه بیانوي، یعنې په دې وجه کې د فعل د لالت قطعي او پریکنده نه وي. بلکې غیر یقیني وي، لکه: ننګیالی به په سفر تللی وي،امکان لري سباولاړ شم.

د_ تمنايي وجه: چې د يو کار هيله او تمنا څرګندوي، تر مسندالیه وړمخه ورسره د کاشکې ادات راځي، لکه: کاشکې چې ورغلی وای. کاشکې ته مې لیدلی وای.

هـ _ وصفي وجه: فعل په دغه صورت کې د يو کار د سرته رسولو پربیانولو برسیره د فعل د واقع کیدو د څرنګوالي حالت یاد فاعل وضعیت څرګندوي، الیته دغه ډول فعلونه د يوې جملې په تابع فقره کې راځي، په داسې حال کې چې فاعل يې يو وي. لکه:

احمد خندل خونې ته راننوت، ملالی د کړکۍ ترڅنګ ناسته مطالعه کوي.

و_ مصدري وجه: چې د يو کار کیدل د زمان او وخت له تاکل کیدو پرته څرګند کړي. فعل په دغه صورت کې د مصدر په بڼه راځي، لکه: ارمنو ته پور ورکول ښه دي. لیدل کتل مو سره وشول.

ز_ امکاني وجه: چې د يو کار کیدل د امکان په صورت کې بیانوي، لکه: ماولیدلای شو، تا وڅښلای شو، ده ولوستلای شو.

۵_ د فعل صیغه:

په پښتو ژبه کې له دې اړخه فعل په معلوم او مجهول او همدارنګه په مثبت او منفي ویشل کیږي.

د يو فعل صیغه هغه وخت معلومه ګڼل کیږي چې د جملې فاعل معلوم وي، يا په بله وينا: فعل فاعل ته نسبت ورکړل شوی وي، لکه: ځیرک بازار ته ولاړ، محمود درس ولوست.

کله چې د يو فعل فاعل معلوم نه وي او مفعول د مسندالیه په توګه راغلی وي مجهول فعل یا دفعل مجهوله صیغه یې بولي. لکه: دیوال وغورځول شو، درس ولوستل شو، اوبه وڅښل شوي.

مثبت فعل هغه دی چې د یو کار سرته رسول او یا دیو حالت نسبت ورکول په ثبوتي او ایجابي ډول بیانوي، یعنې چې فعل د فاعل له خوا تر سره شوی دی. لکه:

پلوشې خط ولیکه. احمد سندرې وویلې.

او منفي فعل هغه دې چې د یو کار سرته رسول او یا د یو حالت نسبت ورکول د نفي په بڼه بیانوي، یعنې چې فعل د فاعل له خوانه دی څرګند شوی، لکه: پلوشې خط ونه لیکه، احمد سندرې ونه ویلې.

۶_ د فعل معنوي اړخونه (د معنا له مخې د فعل ډولونه):

په پښتو ژبه کې فعلونه د معنا له مخې په دوو سترو ډلو: لازمي او متعدي ویشل کیږي.

۱_ لازمي فعل: هغه دی چې یوازې په فاعل تمام شوي وي، مفعول نه غواړي، یا په بله وینا: هغه فعل ته وایي چې مفعول نه قبلوي او فعل په تیره او ناتیره زمانه کې د جملې د فاعل له پاره تصریف کیږي یا فعل له فاعل سره مطابقت لري. لکه:

پلوشه ولاړه، ځیرك راغی، زه ځم، مورې ځو.

۲_ متعدي فعل: هغه فعل دی چې په جمله کې پر فاعل برسیره مفعول هم غواړي. یاپه بله وینا: هغه فعل ته وایي چې مفعول قبلوي او فعل په

تیره زمانه کې د جملې د مفعول له پاره اوړون مومي (ګردانیږي) چې دغه اوړون یې د شخص، عدد او جنس له پلوه ترسره کیږي، لکه:

بریالي لیك ولیکه، احمد زه ولیدلم، احمد مورې ولیدلو.

۷_ د زمانې له مخې د فعل ډولونه:

فعل د زمانې له پلوه په درې ډوله دي. یا په بله وینا: د فعل پیښیدل او یا دیو حالت واقع کیدل په دریو زمانو پورې اړه لري:

۱_ تیر مهال (ماضي) ۲_ اوسمهال (حال) ۳_ راتلونکی مهال (مستقبل)

تیرمهال(ماضي):د وینا یا دیو فعل له پیښیدو څخه پخوا زمانه(Past tense)

نا تیر یا اوسمهال (حال): د وینا یا د یو فعل د پیښیدو اوسنۍ زمانه (Present tense)

راتلونکي مهال (مستقبل): دوینا او د پیښې د پیښیدو وروسته زمانه (Future tense):

۱_ تیر مهال (ماضي) فعل:

ماضي فعل هغه دی چې د یو کار د تر سره کیدو یا دیوې پیښې له پیښیدو څخه په تیر مهال (زمانه) کې بیان کوي. دا لاندې ډولونه لري:

مطلقه ماضي، استمراري ماضي، نږدې ماضي، لرې ماضي، احتمالي يا التزامي ماضي.

دا هر ډول له ځانګړنو او بيلګو سره در پيژنو:

الف_ مطلقه ماضي:

هغه ماضي ده چې لري والی او نږدې والی يې نظر حال زمانې ته معلوم نه وي. په پښتو ژبه کې يې جوړيدنه د فعل له دويمې ريښې څخه په دوو ډولونو ترسره کيږي:

۱_ د (و / wa) د مختارې په زياتولو سره، لکه: ماواغوست، مالیك وليکه . په دې لاندې جدول کې يې بيلګې وګورئ.

وګړی	مفرد	جمع
لومړی شخص	ماوخوړ، وخوړه وخوړله، وخوړې	موږ وخوړ، وخوړه، وخوړل، وخوړې
دويم شخص	تا وخوړ، وخوړه، وخوړل، وخوړې	تا وخوړ، وخوړه ، وخوړل، وخوړې
دريیم شخص	ده وخوړه، وخوړه، وخوړل، وخوړې	دوی وخوړه ، وخوړل، وخوړې

۲_ د څېې په بدلون سره، لکه:
زه ځَملاستم، زه کښيناستم

ب_ استمراري ماضي:

هغه ده چې په تير وخت کې بيا او په تکرار سره واقع شوې وي. يا په بله وينا: چې په تير مهال کې د يو کار کيدل او يا ديوې پيښې د پيښيدو استمرار او دوام بيانوي. په پښتو ژبه کې د استمراري ماضي جوړيدنه د تير مهال فعل له ريښې څخه تر سره کيږي، لکه: ما خټکی خوړ. تا خط ليکه او نور.

ج_ نږدې ماضي:

هغه ده چې د يو کار د کيدو وخت حال زمانې ته نږدې وي. لکه چې يو څوک په تير وخت کې د يو کار دسرته رسيدلو حکايت کوي له همدې امله ځينې ورته نقلي ماضي هم وايي. په پښتو ژبه کې يې جوړيدنه داسې ده:
مفعولي صفت + (يم، يوو، دی، يې) مرستيال فعل
لکه دا لاندې بيلګې: زه ورغلی يم. موږ ورغلي يوو. تاسې ورغلي يئ. دی ورغلی دی، دا ورغلې ده. دوی ورغلي دي. ما ليك ليکلي دي او نور.

د_ لرې ماضي:

هغه ده چې د پيښيدو زمانه يې له حال زمانې څخه لرې وي. يا په بله وينا: لرې (بعيدې) ماضي ته هغه وخت اړتيا پيښيږي چې ورځخه وروسته مطلقه ماضي (بشپړ تير مهال) يا د نږدې ماضي فعل واقع شوی وي.
په پښتو کې د لرې ماضي جوړيدنه او د فعل ګردان په دې ډول دی:

مفعولي صفت + د/ ول /مرستيال فعل:
مالیدلې وه، تا لیدلې وه
تالیکلی و، موږ لیکلي وو
دوی ورغلي وو، تاسې ورغلي وئ
او د بعیدې ماضي مجهوله بڼه په دې ډول جوړیږي:
اصلي فعل+ شول +ول
زه لیدل شوی وم .
ته وهل شوی وې.
خط لیکل شوی و.
خطونه لیکل شوي وو

هـ _ احتمالي یا التزامي ماضي:

هغه ده چې په تیره زمانه کې د یو کار سرته رسیدل د شك، تمنا او یا شرط په بڼه بیان کړي. البته د شك، تمنا یا شرط نښه هم له فعل سره راوړل کیږي. یا په بله وینا: هغه فعل ته وایي چې پېښیدل یې ګومانې او په شك کې وي یا په تیره زمانه کې د یو کار پېښیدل په شك او احتمال سره بیانوي. په دې ډول جوړښت مومي:

مفعولي صفت + به + ول +

او هم ورسره د (ګوندې) او (ښایي) ګومانې ادات هم ملګري کیږي. لکه: ما به لیکلی وي، تا به خوړلی وي، دی به ورغلی وي ښایي ما به لیکلی وي، ګوندې ده به لیدلی وي.

یادښت: پوهاند ډاکټر زیار په خپل اثر "پښتو پښویه" کې د ماضي په پورتنیو ډولونو برسیره د ارماني تمنایي ماضي، تمنایي احتمالي ماضي ، شرطیه ماضي، امکاني ماضي، تاکیدي ماضي. تعجبي ماضي،

استفهامي ماضي او د مطلقې ماضي او تمنايي ماضي بيلابيل ډولونه او د تاکيدي ماضي بيلابيل ډولونه له څرګندونو او بيلګو سره راوړي دي، خو زه د خپل اثر د مخ ګڼو د شمير د محدوديت له امله په دې اړه د بحث د لمنې له غځولو ځخه ډډه کوم.

٢-حال فعل:

حال فعل په اوسنۍ زمانه کې د يو کار يا يو حالت په تر سره کيدو دلالت کوي. د اوسمهال له اصل ځخه د فعل په ريښې پورې فاعلي وروستاړي (ام، ې، و، ئ، ي) په نښلولو سره جوړيږي. لکه: (زه) ليکم، ځم، وهم،(ته) ليکې، ځې، وهې،

(مونږ) ليکو، ځو، وهو، (تاسې) ليکئ، ځئ، وهئ

(دی) ليکي، ځي، وهي (دوی) ليکي، ځي، وهي

د حال فعل په دې لاندې ډولونو بيليږي:

مطلق حال فعل، استمراري حال فعل، التزامي حال فعل، امر فعل، نهي فعل. په لنډون سره يې در پيژنو:

١-مطلق حال فعل: هغه دی چې په اوسنۍ زمانه کې د يو کار سرته رسيدل په عادي او مطلق ډول بيان او کار دوام ونه لري. د شپې لولم، سبا ځم.

شخص	مفرد	جمع
لومړی شخص	وينم	وينو
دويم شخص	وينې	وينئ
درېيم شخص	وينې	وينې

٢_ استمراري حال فعل: هغه دی چې د یو کار سرته رسیدل په اوسمهال د دوام په حال کې بیانوي، لکه: باران وریږي، خط لیکم (یعنې د لیکلو په حال کې یې یم).

٣_ التزامي (احتمالي) حال فعل: چې په اوسنۍ زمانه کې دیو کار پیښیدل د تمنا، شرط او یا شك په ډول بیانوي، لکه: ښایي ولاړ شم. کاشکې راشي.

شخص	مفرد	جمع
لومړی شخص	(که) ووینم	(که) وواینو
دویم شخص	(که) ووینې	(که) ووینئ
دریم شخص	(که) ووینې	(که) ووینې

٤_ امر فعل: هغه دی چې د یو کار د سرته رسولو هیله او غوښتنه کوي. لکه:

ولاړ شه! ، ولاړ شئ!، راشه!، راشئ!، مهرباني وکړئ!، چوپ شه!، مه چوپ کیږئ.

٥_ نهی فعل: چې د یو کار د نه کولو هیله او غوښتنه کوي، لکه: مه ځه،مه ځئ، مه را ځه، مه راځئ!

٦- مستقبل فعل: چې په راتلونکې زمانه کې دیو کار په سرته رسولو یا دیو حالت په بیانولو دلالت کوي. یاپه بله وینا: په راتلونکې زمانه کې د یو کار کیدل څرګندوي.

د یادونې وړ ده چې مستقبل فعل له اوسمهال (حال) فعل څخه د (به) ادات په زیاتولو جوړیږي . لکه: زه به ولیکم.

ته به ولیکې
زه به وځښم ته به وځښې.
دوی به وخوري. تاسې به وخورئ.

یادښت: د مخه مو یادونه وکړه چې مستقبل فعل د اوسمهال له ریښې څخه د /ب/ په زیاتولو جوړیږي. دلته ددې خبرې یادونه ضروري ده چې یوازې د تلل په ګردان کې (لاړ) دمطلقې ماضي د ریښې په راوړلو سره د /شول /مرستیال فعل په ملګرتیا ګردانیږي. لکه:

زه به ولاړشم ، ته به ولاړ شې

مستقبل فعل دوه ښې لري:

۱_ بشپړ: لکه، وبه لیکم، وبه لیکې. مجهوله ښه: و به لیکل شي؛ وبه ځښل شي .

۲_ نا بشپړ: لیکم به، لیکو به. مجهوله ښه:خوړل کیږم به، غورځیږم به.

دويمه برخه: - ناخپلواکې کلمې يا مقيد مورفيمونه

د يوې ژبې په وينا او ليکنه کې کوچنۍ توتې او وړې وړې برخې چې په ځانګړې او خپلواک ډول څه معنا او مفهوم نه افاده کوي، خو کله چې له نورو خپلواکو کلمو سره يو ځای راشي، نو بيا معنا ورکوي. نا خپلواکو کلمو يا مورفيمونوته نه اوړيدونکي يانه ګردانيدونکي ګړونه هم وايي.
دا لاندې بيلا بيل ډولونه او کتګورۍ لري:

۱ _ سر بلونه، او سربلونه:

هغه نه ګردانيدونکې خپلواکې کلمې دي چې په يوازې توګه کومه معنا نه ورکوي، خو د خپلواکو يا غير مقيدو کلمو (مورفيمونو) سره يو ځای يوه معنا او مفهوم افاده کوي.

الف: سربلونه پيشنه ها= Preposition : هغه ادات دي چې تر يوه نوم د مخه راځي او په جمله کې د هغه حالت او دريځ څرګندوي. لکه: (په، پر، د ، تر) په دې بيلګو کې: په کور کې يم، پرچوکۍ ناست يم، د کار له پاره چمتو يم ، تر بازار پورې ځم.

ب- اوسربلونه (پسينه ها = Post positions په يوه جمله يا فقره کې تر نوم وروسته راځي، لکه(کې، سره، پورې ، پسې ، باندې، سربيره، له پاره،څخه) په دې لاندې بيلګو کې:

په کوټه کې يم، په صبر سره کار کيږي، په چاپورې کار نه لرم، په کار پسې ګرځم، پر احمد برسيره دې محمود هم راشي، د مطالعې له پاره وخت نه لرم، له احمد څخه يې غوړام.

۲_ ادات (Particles):

د نه ګردانيدونکو يا نا خپلواکو کلمو (مورفيمونو) ډېره ستره او مهمه برخه ده او دا لاندې ډولونه لري:

ارتباطي ادات، د عطف ادات، تشبيهي ادات،د اضافت ادات:

الف_ ارتباطي ادات:

د اداتو دا ډله د څومره والي، څرنګوالي او ورته والي له مخې دوه جملې سره نښلوي. معمولاً دوه دوه سره يو ځای کيږي، له زياترو سره يې (چې) هم ملګري کيږي او په وينا کې ددو توتو يا فقرو اړيکي سره ټينګوي. په پښتو ژبه کې ارتباطي ادات دادي:

لکه څنګه چې، هسې، که څه هم، بيا هم، داسې، همداسې، همداراز، هغسې، همدرانګه، څو، مګر، همدومره، په همدې ډول.

ب- د عطف ادات:

چې دوه توکه، کلمې او يا جملې سره يو ځان کوي، لکه: او، که، يا، سره) په دې لاندې بيلګو کې:

احمد او محمود ښوونځي ته ولاړل، احمد او محمود سره ورونه دي، ښه کوې که بد، ځې يا نه ځې.

ج- د اضافت ادات:

هغه ادات دي چې شيان او پديدې سره اړوندوي او د ملکيت څرګندونه يې کوي. په پښتو کې يوازې (د) د اضافت توری دی، لکه: د ګودر غاړه، د بريالي خولې، د سروګوته.

د- تشبيهي ادات:

هغه ادات دي چې د دوو يا زياتو شيانو يا پديدو مشابهت او ورته والی ښيي. په پښتو کې: غوندې، په څير، په رنګ، په دود، په توګه، په راز، په ډول او نور. تشبيهي ادات دي، دا ادات په ادبي فنونو کې د تشبيه توري بولي.

دريم- تاړي (وندونه = Affixés):

هغه ترلې يا نا خپلواکې کلمې (مورفيمونه) دي چې د خپلواکو کلمو له سر او پای سره د يو ځای کيدو په نتيجه کې هغه کلمه نوې معنا او مفهوم تر لاسه کوي. تاړي په دوو ډلو (مختاړو، وروستاړو) ويشل کيږي، چې هره ډله يې له خپلو ځانګړنو سره درپيژنو:

الف- مختاړي(پيشوند = Prefix):

هغه تاړې دي چې د کلمې په سر پورې نښلي، يونوی مشتق رامينځته کوي چې هغه کلمه نوې معنا او مفهوم افاده کوي. دا لاندې ډولونه لري:

۱_ د نفي او نهې په صورت کې ددغو مختاړو په يو ځای کيدو سره منفي صفتونه، مجرد فعل امر نفی جوړيږي، لکه دا بيلګې:

(نهی) مه کيښينه، مه ځه، مه ګوره.

(نفي) نه ځې، نه خوري، نه وينې.

۲_ د مطلقيت مختاړي: په پښتو ژبه کې (و = W) د مطلقيت مختاړی ګڼل شوی، کله چې د ځينو فعلونو په سر کې راشي مطلقه ماضي تری جوړيږي، لکه په دې بيلګو کې:

ماوخندل، ما وخوړل، ماوژړل او نور.

٣_ کلمه جوړوونکی مختاړي: له کلمې سره ددغو مختاړو په نښلیدلو یوه نوې معنا او مشتق مینځته راځي، لکه: (بې، نا) په ناجوړه، بې غیرته، ناکام، بې فکره، کلمو کې.

د (کم، بد، یو ، یم) مختاړو په نښلیدو سره صفتونه جوړیږي، لکه په دې بیلګو کې: کم همته، بدعمله، یو وزری، نیم کښه او نور. همدارنګه د کلمو سره د (خوا، شا، سر، خو) له یو ځای کیدو څخه نوي مشتقونه له نویو معناوو سره، لکه په دې بیلګو کې:

خوابدي، خواخوږي، شاخوږي، سرکښي، خرغوږ، او نور. او د (پرې، کښې، پورې، را ، در، ننه، جار، بیا، تیر) د (وتل) فعل پورې د نښتو په نتیجه کې په یوې نوې بڼې او معنا فعلونه جوړیږي. لکه په دې لاندې بیلګوکې:

پریوتل، پورې وتل، کښیوتل، بیاموندل، راتلل، درتلل، ننوتل، جاروتل، بیاموندل.

ب - وروستاړي (Suffixes):

هغه تاړي یاوندونه دي چې د کلمې په پای پورې نښلي او له نوې معنا سره یو نوی مشتق رامینځته کوي، لکه (نی) روستاړی چې له (کور) څخه(کورنی) جوړوي.

روستاړي په دوه ډوله دي: الف- صرفي روستاړي، ب- اشتقاقي.

الف- صرفي روستاړي:

١_ فاعلي روستاړي د اوسمهال فعل له ریښې سره:

دغه وروستاړي په پښتو ژبه کې پنځه دي:

١_ ام / əm / زه ځم.

٢_ ي / e / ته ځې.

۳_ ي / i / هغوي ځي

۴_ ئ /ɪə/ تا سوځئ

۵_ و / u / مونږ ځو

له متعدي فعل سره په اوسمهال کې همدغه پنځه وروستاړي (ام. و. ي. ئ، ي) دي.

۲_ مفعولي روستاړي:

له متعدي فعل سره په تير مهال کې:

دا چې متعدي فعل په تير مهال کې د جملې له مفعول سره سمون لري نو:

که چيرې مفعول يوګړی نارينه وي روستاړی د زورکی / ə / په بڼه او که مفعول يوګړی ښځينه وي، نو روستاړي د / a/ له / په بڼه څرګندیږي. همدرانګه که مفعول نارينه جمع وي د / ə/ / په بڼه او که ښځينه جمع وي. روستاړی د / / (لې) په بڼه څرګندیږي.

که چيرې مفعول په تيره زمانه کې لومړی، دويم او دريم شخص وي. روستاړي په لاندې ډول څرګندیږي:

احمد زه ووهلم /ام/ احمد مونږ ووهلو / و /

احمد ته ووهلې / ې/ احمد تاسې ووهلئ /ئ/

احمد دی وواهه / ə / احمد دوی (نارينه جمع) ووهل / ə/ /

احمد دا ووهله / a/ احمد دوی (ښځينه جمع) ووهلې / e/

ب- اشتقاقي يا کلمه جوړوونکي روستاړي:

په پښتو ژبه کې ددې ډول روستاړو شمير ډېر زيات دی چې دلته د بيلګې په توګه د ځينو يادونه کوو:

١ـ د نسبت روستاړي: چې یو نوم، قام، ځای، زمان، جنس او نوروته نسبت کوي.

د نسبت وروستاړي (وال، خیل، زی، نی، ین، ییز) دی، په دې لاندې بیلګو کې یې وګورئ: کامه وال، شمالي وال، سلیمان خیل، بابکر خیل، سدوزی، احمدزی، اوسنی، پرونی، وریښمین، خاورین، چره ییز، سیمه ییز او نور.

٢ـ تصغیري وروستاړي: (ګوټی، ټی، ك، کی،) لکه په دې لاندې بیلګو کې: کتابګوټی، غریب ګوټی، کوچنوټی، تورك، غوټکی، توره کی.

٣ـ د مکان او زمان وروستاړي: (ځی، غالی، تون)

لکه په دې لاندې بیلګو کې:

بنوونځی، پوهنځی، لوبغالی، پنډغالی، پوهنتون، درملتون.

٤ـ د صوت روستاړي، (هار، کی): لکه په دې بیلګو کې: ټکهار، غرهار، پشکی.

٥ـ فعلي، روستاړي(ګر، ندوی، ګړی، کښ، ونکی) چې په نښلولو سره یې فاعلي صفتونه جوړیږي.

بیلګې: ختګر، کروندګر، ګټندوی، ځارندوی.

ژرنده ګړی، منځګړی، زیارکښ، سرکښ.

وهونکی، تلونکی.

څلورم څپرکی:

نحوه یا جمله پوهنه

(Syntax)

نحوه عربي کلمه ده چې لغوي معنا يې فرهنګونو: لاره، طريقه، روش، طرز او دود را اخيستې. مګر په اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جمله کې دکلمو په مطابقت، اړيکې (ارتباط) ترتيب او ترکيب باندې غږيږي. يا په بله وينا: نحوه هغې پوهنې ته وايي چې د يوې ژبې دجملو، عبارتونو، فقرو، غونډونو (ترکيبونو)، له جوړښت، ترتيب او تنظيم څخه بحث کوي.

يوه بله توضيحي او تشريحي پيژندنه يې داسې ده:

نحوه هغه پوهه ده چې دجملو، فقرو، عبارتونو، غونډونو له جوړښت او قاعدو څخه بحث کوي. د جملې د اجزاوو يا توکونو قاعدې هم پکې څرګندې او بيانيږي.

د يادونې وړ ده چې په نحوي چاپيريال کې نحوي ترکيبونه يا غونډونه او جملې د معنا او جوړښت له مخې په پام کې نيول کيږي. همدارنګه پکې د نحوي واحد يعنې تګميم په جوړښت او تشکيل دمورفيمونو ترکيب، تنظيم، بدلون او ګرامري اړيکو باندې بحث او خبرې کيږي.

په عمومي توګه د يوې ژبې په ګرامر کې د نحوې برخه بايد د جملې په باب لاندينيو پوښتنو ته سم او عملي ځوابونه ورکړي:

لومړی: د یوې جملې تر ټولو کوچنۍ برخه کومه ده،یا په بله وینا هغه کوچنۍ واحدونه چې جمله جوړوي کوم دي؟

دویم: د جملې دغه برخې یا توکي (اجزاء) یو له بل سره څنګه یو ځای کیږي، تر څو جملې جوړې کړي؟ (یوه جمله باید تر وروستي حده پورې وویشل شي)

دریم: کله چې د یوې جملې مورفیمونه په ګرامري واحدونو وویشل شي باید ځان په دې پوه کړو چې دغه کوچني واحدونه کوم او څه نومیږي؟

د نحوې موضوع:

لکه چې څرګنده ده ژبه د نښو او علامو یو نظام دی. غږیزې (صوتي) نښې لفظي نښې جوړوي، په دې مفهوم چې د غږیزو نښو له ترکیب څخه لفظي نښې را مینځته کیږي. او له همدغو لفظي نښو یا کلمو څخه په یوازې او یا یوه له بلې سره د یو ځای کیدو په نتیجه کې د ژبې نحوي علامې او نښې نښانې را څرګندیږي چې هغو ته ګرامري بڼه یا شکل ویل کیږي او له هغو څخه وینا یا خبرې جوړیږي. همدغه د وینا د توکونو (اجزاوو) خپل منځي اړیکې او جوړښت په مجموع کې د نحوې موضوع جوړوي.

په عمومي ډول په نحوي سیستم کې د تګمیم تجزیې او ترکیب او د هغوی ترتیب او تنظیم ته نحوه یا سنټکس ویل کیږي، یا په بله وینا: د نحوي واحدونو او د هغو د مربوطه توکونو(اجزاوو) تجزیه، ترکیب، تنظیم او څرنګوالي ته سنټکس (Syntax) یا نحوه وایي.

تګمیم (Tagmeme) یا د نحوي واحد

په ګرامري معنا، مفهوم او خپلواکي بنې سره د یوې ژبې تر ټولو کوچنی نحوي واحد چې د ویشنې وړ نه وي تګمیم بلل کیږي.

کله چې یو ګرامري شکل د یو لوی شکل یوه برخه وي، نو هغه شکل ته مقید یا نا خپلواك وایو، خو که هغه د لوی شکل برخه (جز) نه وي بیا نو خپلواك ګرامري شکل دی چې مورِ یې تګمیم یا نحوي واحد نومو، چې جمله یې محتوا ده.

د بیلګې په توګه کله چې وایو: دغه څوك ده؟ که د همدې سوالیه جملې په ځواب کې وویل شي: نجلی. نو بشپړ مطلب رسیږي. په دغه حالت کې (نجلی) یو تګمیم دی، ځکه چې یو آزاد ګرامري شکل دی او د خپل ځان نه د کوم بل لوی شکل برخه نه ده. کله که له همدغې "نجلی" سره د " هوښیاره" کلمه ورزیاته شي او د یو ګرامري شکل په توګه (هوښیاره نجلی) په ترکیب کې ولیدل شي، نو بیا دلته "نجلی" د خپل ځان د لوی جوړښت د یوې برخې په توګه کارول شوې او مقید دی، نو ځکه یې په دغه صورت کې تګمیم نشو بللی.

د یادونې وړ ده چې (هوښیاره نجلی) په توصیفي حالت کې یو تګمیم دي، د (هوښیاره نجلی راغله) ګرامري جوړښت کې د خپل ځان د لوی شکل یوه لویه برخه ده، نو ځکه تګمیم نه دی.

تګمیم یا نحوي واحد په عمومي توګه په یوې ژبې کې دوې ساحې احتوا کوي: فقره (Clause) او جمله (Sentence).

خو د ژبې په ګرامري شکلونو کې غونډونه یا ترکیبونه هم شته چې له دوو داسې کلمو څخه جوړوي چې نحوي اړیکې لري، خو بشپړه معنا نه وړاندې کوي. د مخه تر دې چې د فقرې او جملې په اړه څه ووایو د بحث

لړۍ ددغو ترکیبونو د پیژندنې او جوړښت د څرنګوالي په اړه په لنډو او څغلندو څرګندونو سره غځوو.

۱ـ ترکیب (غونډ- عبارت)

ترکیب د دوو یا زیاتو (خپلواکو او نا خپلواکو) کلمو او مورفیمونو له یوځای کیدو څخه عبارت دی. چې اجزاء یې یو له بله ګرامري اړیکې ولري. یا په بله وینا د دوو یا زیاتو خپلواکو او نا خپلواکو کلمو ټولګه (مجموعه) ده چې برخې یې یو له بله ګرامري اړیکې لري.

ترکیبونه که له یوې خوا د جملو په جوړونه او رغونه کې ارزښتمنه ونډه لري، نو له بلې خوا په ځانګړې توګه د نحوي واحدونو دنده هم سر ته رسولی شي.

د ترکیب ځانګړنې:

پوهندوی ډاکټر زرغونې ربښتین زیو په خپل اثر" پښتو نحوه"کې د ترکیب دا لاندې ځانګړنې ښودلې دي:

۱ـ ترکیب له دوو یا زیاتو خپلواکو یانا خپلواکو کلمو څخه جوړیږي.

۲ـ په ترکیب کې یوه کلمه د بلې اړونده (تابع) ګرځي.

۳ـ په ترکیب کې د کلمو تر مینځ نحوي اړیکه ټینګیږي.

۴ـ ترکیب نسبت کلمې ته پراخ او مرکب مفهوم څرګندوي.

۵ـ دجملې او ترکیب ترمینځ توپیر او بیلوالی شته.

د جملې او ترکیب تر مینځ توپیر:

د جملې او ترکیب ترمینځ جوت توپیر شته. د یوې جملې مبتداءاو خبر هر یو له اسمي او فعلي ترکیبونو څخه جوړیږي. د بیلګې په ډول په یوه

بشپړه جمله کې مبتداء،خبر او د هغوی متعلقات خپل ځای لري. خو ترکیب له دې اړخه نیمګړې او بې برخې دی.

د ترکیب ډولونه:

ترکیبونه په لومړی سرکې په دوو سترو ډلو ویشل کیږي:

الف: اسمي ترکیبونه

ب: فعلي ترکیبونه

دا هره ډله خپل بیل ډولونه لري چې دلته یې په ډېر لنډون سره در پیژنو:

الف- اسمي ترکیبونه:

هغه ترکیبونه دي چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې نوم (اسم) وي او دغه ترکیبونه په جمله کې د مبتدا (مسندالیه) او په اسمي جمله کې د خبر (مسند) په برخه کې راځي.

اسمي ترکیبونه دا لاندې ډولونه لري:

١_ اضافي ترکیبونه:

دا هغه ترکیبونه دي چې د یو نوم نسبت بل نوم یا ضمیر ته شوی وي، د پښتو ژبې په اضافي ترکیبونو کې معمولاً یونوم مضاف الیه او بل نوم د مضاف په توګه وي. مضاف له مضاف الیه څخه وروسته راځي.

جوړښت یې په دې ډول کیږي: د اضافت توری (د) + نوم+ نوم

د + مضاف الیه + مضاف، لکه: د کابل ښار

اضافي ترکیب د معنا له مخې ددې لاندې مقصدونو له پاره راځي:

ـ د ملکیت یا نسبت او قرابت د معناد څرګندولو له پاره: د ښوونځي نجونې.

ـ د اختصاص په مفهوم: د کندوز خټکي

ـ د بیان او وضاحت په معنا: د آزادۍ څلی

ـ د تشبیه په مقصد: د سترګو تور، د عقل لاس

ـ د ظرفیت په معنا: د تیلو بوتل د غوړو ټیم.

ـ د ورټوب په مفهوم: د دوستۍ وړ.

۲ـ توصیفي ترکیبونه:

دغو ترکیبونو ته چې په عامه توګه توصیفي ترکیبونه وایی، هغه ترکیبونه دي چې د یو نوم یا نو مځې (ضمیر) د حالت څرنګوالی د صفت په واسطه بیان او وښودل شي، لکه: ښکلی ښار، زیړګل او نور.

په پښتو ژبه کې توصیفي ترکیبونه داسې جوړیږي چې:

(صفت+ نوم)،(نوم+ نوم)، (نوم + صفت)، (نوم + قید)،

(نوم+ فعلي صفت) ،(صفت+ صفت)

۳ـ عددي ترکیبونه:

هغه ترکیبونه دي چې د شمیر (عدد) او نوم یا عدد او معدود څخه جوړ شوي وي. جوړښت یې داسې دي: عدد+ نوم.

په پښتو ژبه کې عدد له خپل معدود څخه د مخه راځي: لکه دوه قلمونه، یو کور، پنځه خونې.

۴ـ قیدي ترکیبونه:

هغه ترکیبونه دي چې د جوړښت بنسټیز او اصلي توکي یې قیدونه وي. دا ترکیبونه د بیلابېلو معناګانو د افادې په خاطر ځینې نورې کلمې (تاکید، عدد، نوم، سرینه او پسینه) ورسره یو ځای کیږي او ټول ترکیب یې د قید په توګه په جمله کې استعمالیږي.

په لاندنيو بڼو جوړيږي:

الف: قيد+ قيد= قيدي ترکيب، لکه: هلته دلته، ښکته پورته او نور.

ب: نوم + نوم= قيدي ترکيب، لکه: غرونه غرونه، ځولۍ ځولۍ، پنډپنډ .

ج: صفت+ صفت= قيدي ترکيبونه: پټ پټ، غټ غټ او نور.

د: عدد+ عدد= قيدي ترکيب: پنځه پنځه، يو يو، شل شل.

هـ: عدد+ عدد + نوم = قيدي ترکيب، لکه: يو دوه ورځې، دوه دري قلمونه .

و: صفت +قيد = قيدي ترکيب، لکه: ډېر ژر، ډېر ژر، توره شپه.

ز: ضمير+ ضمير= قيدي ترکيب، لکه: څوک څوک، کوم کوم.

ح: صفت + صفت= قيدي ترکيب، لکه: ډېر ښه، ډېر هوښيار اونور.

۵ _ تاکيدي ترکيب:

په پښتو کې تاکيدي ترکيبونه له دوه هم آهنګه او هم معنا کلمو څخه جوړ شوي دي. دري ډولونه لري:

۱ _ چې يوه کلمه په ترکيب کې کټ مټ تکرار شوې وي.

۲ _ چې يوه کلمه په لږ بدلون سره تکرار شوې وي. لکه: ډز ډوز،تک توک.

۳ _ چې په دويمې کلمې کې د اول توري پرځای (م)، (پ)، (ب) يا(و) راوړل شوي وي، لکه: غنم منم، خړپړ، توربور، خورور.

۶_اداتي ترکيبونه:

دې ته ځکه اداتي ترکيب وايي چې له اداتو او اسمي مرکز څخه جوړ شوی وي. په دې ترکيبونو کې اسمي مرکز، ضمير، نوم، صفت يا کوم بل اسمي ترکيب وي. په دې ډول ترکيبونو کې ادات له نوم څخه

وروسته او هم د مخه استعماليداى شي. لکه: په کور کې. تر کابل پورې او نور.

ب- فعلي ترکيبونه:

هغه ترکيبونه دي چې ستره مرکزي او اصلي برخه يې فعلونه وي.

دغه ډول ترکيبونه معمولاً په جمله کې د خبر (مسند) برخه جوړوي.

فعلى ترکيبونه په ځانګړې توګه ګرامري معنا هم څرګندوي او په ځانګړې توګه يوه جمله هم ګڼل کيداى شي.

په پښتو کې فعلي ترکيبونه په لاندې ډول جوړيږي:

ـنوم + د فعل نوم (مصدر)= فعلى ترکيب. لکه: کتاب لوستل. ليك ليکل، په لاره کې دريدل.

- مصدر + فعل = فعلي ترکيب. لکه: غوښتل کوم. رټل کوي او نور.
- قيد+ فعلي ترکيب= فعلى ترکيب. لکه: عادلانه چلند کول.
- نوم+ کومکى فعل= فعلى ترکيب. لکه: انسان يم.
- صفت + کومکي فعل= فعلى ترکيب. لکه:جوړيم.
- قيد+ کومکي فعل= فعلى ترکيب. لکه: لرې يم_ نژدې يم.
- عدد+ کومکي فعل= فعلي ترکيب. لکه: يو دى. دوه دي.

ـديم، وم کومکي فعلونه + فعلونه يا فعلي صفتونه= فعلى ترکيب. لکه: راغلى يم. ګرځيدم، راغلى وم، ګرځيدلى وم.

لنډه دا چې په دې برخه کې د پښتو ژبې زياتره فعلي جوړښتونه فعلي ترکيبونه جوړولى شي، د ټولو بيلګې راخيستل ددې لنډې تنګې ليکنې په چوکاټ کې نه ځايږي، نو ځکه په همدې پورتنيو بسنه کوو.

۲_ فقره (Clause)

فقره هم د ژبې له کلي واحدونو څخه ده اوبجملې اساسي ارکان (مبتدا او خبر) لري، خو کله کله د معنا له مخې د لوی جوړښت یوه برخه ګرځي او مقیدیږي او کله بیا د یو خپلواك (آزاد) ګرامري واحد په توګه کارول کیږي.

د بیلګې په ډول: "پسرلی راغی" یوه خپلواکه ګرامري بڼه ده چې مبتدا او خبر دواړه لري. خو که و ویل شي: پسرلی چې راغی. مقیده شوه او خپلواکه ګرامري بڼه نه لري. په دغه حالت کې باید یوه بله ګرامري بڼه رامخې ته شي چې معنا یې بشپړه شي. لکه: "پسرلی چې راغی" نړۍ ښکلې کیږي.

چې په دې صورت کې ویلی شو:" پسرلی چې راغی": یوه مقیده ګرامري بڼه او "نړۍ ښکلی کیږي" یوه آزاده ګرامري بڼه او فقره ده.

البته ځینې داسې فقري هم شته چې د معنا له مخې ګرامري بڼه لري، خو د بڼې او جوړښت له مخې د جملې اصلي او بنسټیز ارکان (مبتدا، او خبر) نه لري.

لکه: خدای په امان، سهار په خیر او نور.

دغه ډول فقرو ته کوچنۍ فقري ویلی شو.

د بڼې له مخې د فقرې ډولونه:

فقره د بڼې له مخې په دوو ډولونو بیلیږي: کوچنۍ فقرې او لویې فقرې

۱_ کوچنۍ فقرې: هغه فقري دي چې د جملې بنسټیز ارکان مبتداء او خبر نه لري، لکه: هو، افسوس او نور.

۲_ لویې فقرې: هغه دی چې د جملې اساسي ارکان (مبتدأ‌وخبر) لري. په دې لاندې خبرو اترو کې د کوچنۍ او لویې فقرې بیلګې ښودلی شو:

احمده!
بلې!
چیرې یې؟
دلته
څه کوې؟
هیڅ.

په پورته خبرواترو کې /چیرې یې؟/ = ته چیرې یې؟/ او/ څه کوې؟/ یعنې ته څه کوې؟ د جملې اساسي ارکان لري، لویې فقرې دي او پاتې نورې: (بلې، دلته، هیڅ) کوچنۍ فقرې دي.

د لویو فقرو ډولونه:

دمخه مویادونه وکړه چې لویې فقرې د جوړښت له مخې بشپړې دي او د جملې اساسي ارکان مبتدأ او خبر لري، دا فقرې پر دوو ډلوویلیږي:

۱_ آزاده یا خپلواکه فقره:

هغه ده چې ظاهراً د بلې له مخې بشپړه وي او کولی شو هغه بې له کوم بدلون څخه په آزاده او خپلواکه بڼه وکاروو او یو بشپړ مفهوم د هغې په واسطه ولیږدوو.

لکه: احمد راغی، محمود ولاړ.

دلته محمود ولاړ، یو آزاده فقره ده، په یوازې څان هم کاریدلی شي.

۲_ ترلې یا مقیده فقره:

چې په خپلواك ډول يې نشو کارولی او په يوازې ځان يې مفهوم بشپړ نه وي، لکه په دې لاندې بيلګو کې چې دويمې فقرې يې مقيدې او ناخپلواکې دي:

ملالی راغله او ګلالی لاړه.

هغه غير حاضر شو، ځکه چې ناوخته راغی.

احمد بازار ته ولاړ، چې بوټونه واخلي.

د معنوي اړيکوله مخې د لويو فقرو ډولونه:

د معنوي اړيکو له مخې لويې فقرې په دري برخو ويشل کيږي:

۱_ نيمګړې يا ناقصې فقرې: چې معنا يې پخپل ذات کې بشپړه نه ده، بلکې يوې بلې جملې ته اړتيالري. لکه په دې لاندې جملو کې:

ګل مې وليد.... (چې په باغ کې غوړيدلی و)

چې کړې.... (هغه به ريبې)

۲_ بشپړوونکې(متممې) فقرې: هغه چې د ناقصو او نيمګړو فقرو د بشپړتيا او يا د نيمګړو فقر د مفهوم د پوره کولو له پاره راځي. يعنې د هغوی معنا بشپړوي.

لکه په پورته بيلګو کې(چې په باغ کې غوړيدلی و) او (هغه به ريبې) .

۳_ معترضه فقرې: چې د جملو په مينځ کې راځي. او له اصلي موضوع سره مستقيماً څه اړه ونه لري، بلکې يو څه اضافه تشريح وي، که هغه له جملې څخه خذف هم شي، د جملې مفهوم ته کوم زيان نه رسيږي.

معترضه فقره معمولاً په جملې کې د لينديو( ) ترمينځ نيول کيږي او ځينې يې د کامې(،) ليك نښې په واسطه د جملې له متن څخه بيلوي. په دې لاندې بيلګو کې يې وګورئ:

احمد اوبريالی(چې دواړه ورونه دي) ننګرهار ته ولاړل.

پوهاند حبيبي، ارواه دې يې ښاده وي، د پښتو ادبياتو پياوړی څيړونکی و.

د يادونې وړ ده چې معترضه جمله په کلي توګه دوينا اضافي برخه نه ده، بلکې پر تقسير او تشريح برسيره دوينا ښکلا هم زياتوي اود لوستونکي معلومات هم ورزياتوي. لکه په پورته لومړۍ جمله کې چې لوستونکي د احمد او بريالي له ورو ولې څخه هم خبروي.

درېيم-جمله (Sentence)

جمله عربي کلمه ده، لغوي معنا يې مجموعه او ټولګه ده او په اصطلاح کې د الفاظو او کلمو يو داسې ترکيب چې يو بشپړ مفهوم افاده او څرګندوي، جمله بلل کيږي يا په بله وينا: جمله د يوې ژبې هغه خپلواکه ګرامري بڼه ده چې هم د جوړښت او هم د معنا له مخې پوره او بشپړه وي، يعنې دا چې جمله دالفاظو او کلمو مجموعه ده چې يو له بله نحوي اړيکې ولري، پوره او خپلواکه معنا او مفهوم وړاندې کوي.

د جملې ځانګړنې:

پوهاند يمين په خپل اثر" د ستور همګاني زبان دري (صرف و نحو) کې د جملې څلور ستړي ځانګړنې ښودلې دي:

۱ـ دا چې له خپل ځان نه د يوې لويې بڼې (شکل) برخه نه وي، مقيده او تړلې نه وي.

۲ـ په ډېروکوچنيو نحوي واحدونو د تجزيې او شننې وړ نه وي، يعنې تګميم وي.

۳_ دا چې د جوړښتي برخو ترمینځ يې نحوي اړیکه موجوده وي.

۴_ د جملې دوه بنسټیز رکنونه ولري. یعنې یوه یا څو مبتدأ او خبر پکې وي.

د جملې جوړښت اور غنده توکونه:

د یوې بشپړې جملې په جوړښت کې دا لاندې توکونه وندې او برخه لري:

لومړی- اصلي یا خپلواک توکونه:

په دې برخه کې ټولې خپلواکې کلمې او مورفیمونه(نومونه، ځیزنومونه، صفتونه، نومځري، شمیر نومونه فعلونه(بشپړ، مرستیال، یا ساده، اشتقاقي، ترکیبي) قیدونه(اصلي، غیر اصلي) راځي.

دویم- مرستیال یا کومکي توکونه:

مرستیال توکونه د جملې خپلواك توکونه نه دي. د کوم ځیز نومونه نه ده. یوازې په جمله کې ګرامري معنا ورکوي. دې توکونوته ځکه مرستیال یا کومکي توکونه وایي چې د جملې د اصلي توکونو، ترکیبونو او جملو ترمینځ اړیکې ټینګوي یا په بله وینا: ټرون راولي. په دې توکونو کې ادات (ربط، عطف، پیشینې او پسینې) او داسې نور راځي. دا لاندې بیلګه وګورئ:

له احمد سره خواخوږي په کار ده.

که دا جمله داسې تجزیه کړو:

/له/، / احمد/، / سره/، /خوا/، /خوږي/، /په کار/، /ده/

نو وینو چې له اوو توکو څخه جوړه ده چې څلور يې خپلواك((اصلي) او درې يې کومکي دي.

په دې جمله کې (له احمد سره) چې لومړی برخه ده، (مسند الیه) بڼه لري او (خواخوږي پکار ده) د خبر (مسند) برخه ده.

د جملې بنسټیزې برخې:

هره بشپړه جمله دوه بنسټیزې(اساسي) برخې لري:

(۱) مبتدأ (۲) خبر

مبتدأ او خبر د یوې جملې اساسي برخې یا زړی(هسته) جوړ وي. او له فرعي اجزاوو او توکونو څخه هم یوه پوره او بشپړه جمله جوړولای شي.لکه په دې لاندې بیلګو کې:

نجونې راغلې، ورځ تیره شوه، ټولنه وده کوي.

وینو چې په دې هرې جمله کې د مسند الیه (مبتدأ) او مسند (خبر) برخې په خپلواکه او مستقله توګه راغلې دي او نورو فرعي توکو او اجزاو ته یې اړتیا نه ده لیدل شوې.

۱_ مبتدأ (مسند الیه - فاعل = subject)

مبتدأ په ګرامري توګه د جملې یوه خپلواکه (مستقله) معنا لرونکې برخه ګڼل کیږي، په جمله کې د هغې په باب خبر ورکول کیږي.

یا مسندالیه (مبتدأ) هغه برخه ده چې د هغې په نسبت څه ویل کیږي، یعنې د یو حکم نسبت ورته کیږي.

په پښتو ژبه کې مسندالیه (فاعل) په خپلواکه توګه د جملې اصلي او بنسټیزه برخه جوړوي، په دې کې د کلام د ټولو اجزاوو څخه د (فاعل یا مسند الیه) په توګه راځي، چې په دې لړکې، د اشخاصو نومونه، د شیانو نومونه، ضمیرونه، صفتونه، عددونه، قیدونه له ټولوساده او مرکبو بڼو سره راځي. او د قاعدې له مخې نومونه، صفتونه، نومڼري(ضمیرونه) او عددونه برسیره په اصلي حالت په اوښتي یا مغیره حالت هم راتلای

شي. همدارنګه د ارتباط له اداتو سره د پيشينو او پسينو سره هم يو ځای راتلای شي.

دلته ددې ټولو بيلګې نشو راوړای، يوازې داځو بيلګې يې وګورئ:

زده کوونکي د آزموينې په فکر کې دي، لمر راوخوت، خلکو خپل کار کاوه، تيل توی شول.

په پورته جملو کې په ترتيب سره (زده کوونکي، لمر، خلکو، تيل) د مبتدأ يا مسند اليه او د جملو نورې برخې د خبر، مسند په توګه راغلې دي.

۲_ خبر(مسند ـ فعل = Predicate) :

خبريا مسند هم د جملې مهمه او بنسټيزه برخه ده. د جملې دابرخه د مبتدأ (مسند اليه) حال څرګندوي.

په پښتو ژبه کې د مبتدأ په شان خبر هم دوينا او کلام له ټولو توکونو څخه راتلای شي. خبر کيدای شي د جوړښت له مخې ساده يا مرکب وي.

خبر په دوه ډولونو ويشل کيږي: اسمي او فعلي.

د يادونې وړ ده، هغه جملې چې د خبر په برخه کې يې پوره فعل يا فعلي ترکيب راغلی وي د فعلي جملې په نامه يادېږي او هغه جملې چې مبتدأ او خبريې دواړه نومونه وي اسمي جملې ورته وايي.

د مبتدأ او خبر سمون (مطابقت):

د پښتو ژبې د جملو يوه مهمه ځانګړنه داده چې مبتدأ له خبر سره سمون او مطابقت لري. دا سمون د جملې د فاعل او فعل يا مبتدا او خبر (مسند ، مسند اليه) تر مينځ له دريو اړخونو (دشخص، جنس، او عدد) له مخې موجودوي.

۱_ دوګړي (شخص) له مخې سمون:

دوګړي يا شخص له مخې سمون دا چې فاعل (مسند اليه _ مبتدا) په جمله کې له هر يو وګړي (لومړی . دويم. درېيم) سره سم وکارول شي. لکه: زه راغلم. ته راغلې. دی راغی. دا راغله. تاسې راغلاست. دوی راغلل. دوی راغلې.

۲_ دجنس له مخې سمون:

د جنس له مخې سمون دا چې فاعل (مبتدا_ مسندالیه) ښځينه وي. فعل(خبر_ مسند) هم ورسره ښځينه کارول کيږي او که نارينه وي فعل هم ورسره نارينه کارول کيږي. لکه: احمد راغی. ملالی راغله. کال تير شو. مياشت تيره شوه.

۳_ د ګڼې يا عدد له مخې سمون:

دا چې د جملې ارکان د عدد (مفرد_ جمع) له مخې سره سمون ولري. که چيرې د جملې مبتداء يو وګړې (مفرد.) وي خبر هم ورسره يوګړی او که جمع وي خبر هم ورسره د جمعې په بڼه راوړل کيږي. لکه دالاندې بيلګې:

زلمی راغی. توريالی اوبريالی راغلل. احمد ووهل شو. بريالی او توريالی ووهل شول.

د جملې بشپړوونکي توکي:

جمله د مخکې يادوشويو خپلواکو اومرستيالو توکو برسيره ځينې بشپړوونکي (متمم) توکونه هم لري چې دلته يې در پيژنو:

لومړی _ آهنګ:

د جملو آهنګ دري ډوله ښودل شوی دی:
خبرې آهنګ، پوښتنې آهنګ، هیښنې یاد بلنې آهنګ

۱_ دخبرې جملې آهنګ: هوارپیلیږي او بیا غورځیدلی پروت پای ته رسیږي. لکه: زمری راغی.(↘)

۲_ د پوښتنې جملې آهنګ: تیټ پیل کیږي او بیا نیغ شوی پروت پای ته رسیږي. زمری راغی؟ (→) که په سرکې پوښتنو مځې یا د پوښتنې ادات راشي، بیا نو آهنګ په سرکې لوړیږي.

۳_ د هیښنې، بلنې یا ګومانې جملې آهنګ: یو ډول راځي او هغه دا چې تیټ پیل کیږي، بیا پورته ځي او بیا ځوړند پای ته رسیږي. لکه زمری راغی (↗)

دویم_ خج:

لکه چې څرګنده ده هره ژبه د خج ځانګړی سیستم لري او په کلمه او جمله کې د خج دریځ توپیر کوي. البته په نړۍ کې داسې ژبې هم شته چې خج نه لري. خو زیاتره یې لري او پښتو ژبه هم د هغو خج لرونکو ژبو له ډلې څخه ده. ترکومه چې خبره د پښتو ژبې په جملو کې په خج پورې اړه لري، ویلی شو چې په پښتو ژبه کې هره کلمه تاکلی خج لري او د خج موقعیت یې یو ډول نه دی. په ځینو کلمو کې په لومړۍ څپه (لکه خَتِه) په ځینو کې په مینځ(لکه لوړوَالی) او په ځینو کې په وروستۍ څپه (لکه: غټهَ) راځي.

د خج ځانګړنې:

خج په عمومي ډول دوه ځانګړنې لري:

۱_ خجنه څپه د بې خجه څپې په پرتله په ډېر زور او فشار سره ویل کيږي.

۲_ خجنه څپه د بې خجه څپې په پرتله اوږده ویل کيږي.

د يادونې وړ ده چې خج د پښتو ژبې په لغوي او ګرامري جوړښت کې ډېر ارزښت او اهميت لري، ځکه د خج موقعيت د کلمې په معنا او مقصد هم ډېره اغيزه کوي. د بيلګې په توګه که ووايو: زه کورته ځم. يوه عادي خبري جمله ده. خو که د جملې په لومړۍ برخه (زه) باندې خج او فشار وارد شي يوه پوښتنې جمله ورځخه جوړيږي:(زَه کورته ځم؟.)

دړيم_ بيلتون او پيوستون(فصل او وصل):

له بيلتون او پيوستون څخه مطلب دادی چې د ترکيبونو يا جملو د پای کلمې سره پيوستې او يا ناپيوستې وويل شي. يا په بله وينا: بيلتون يا وقفه په ترکيب او جمله کې د لفظي او نحوي ډلو(کلمو، ترکيبونو) د بيلولو له پاره راځي او همدارنګه د بيلتون يا وقفې له مخې د جملو په پای کې يوه جمله له بلې څخه جلاکيږي. پيوستون يا اتصال په ترکيبونو او جملو کې د اړوندو توکو(اجزاو) ترمينځ پيوستون او الحاق ګڼل کيږي.

مطلب دا چې دا بيلتون او پيوستون د جملو د معنا په افاده کولو کې ځانګړی ارزښت او اهميت لري، په کومو کلمو، ترکيبونو او جملو کې چې د بيلتون يا پيوستون اړتيا لېدل کيږي که د دوو توکونو (کلمو، ترکيبونو او جملو) پای او پيل سره يو ځای جوخت وويل شي، يوه معنا او که جلا يا په بله وينا په يو څه ځنډ سره وويل شي بله معنا ورکوي. دلته بايد تر هر

څه لومړی دې ټکي ته پاملرنه وشي چې په نومورې جملې یا ترکیب کې مطلب څه شی دی. دا لاندې بیلګې وګورئ.

احمد خوشحال ولاړ، د زړه سوي آهونه مې ځوروي.

په پورته جملو کې که له (احمد) او د (زړه) له کلمو وروسته یو څه مکث او څنډ وشي (احمد، خوشحال ولاړ)، (د زړه، سوی آهونه مې ځوروي.) او همدارنګه (احمد خوشحال) او (د زړه سوي آهونه) څخه وروسته یو څه څنډ وشي (احمد خوشحال، ولاړ)، (د زړه سوي آهونه، مې ځوروي) نو په دې پورتني هر حالت کې هره جمله څانګړې څانګړې معنا ورکوي.

د جملې ډولونه:

الف: د بڼې او جوړښت له مخې:

په پښتو ژبه کې جمله د جوړښت له مخې په دوو لویو ډلو ویشل کیږي:

۱_ یو ستوې یا ساده جمله.

۲_ غبرګه یا مرکبه جمله.

دا هره ډله په لنډه توګه در پیژنو:

۱_ یو ستوې یا ساده جمله:

هغه جمله ده چې له یو فاعل او یو فعل یا په بله وینا: له یوې مبتدا او خبر څخه جوړه وي. په دوه ډوله ده:

الف_ لنډه ساده یوستوې جمله: هغه ده چې بنسټیزې (اساسي) برخې یې له یوې خپلواکې کلمې او یا لنډ ترکیب څخه جوړې وي. لکه: احمد راغی، د لمر سترګه پریوته.

ب_ اوږده یوستوې جمله: چې د جملې اساسي یا بنسټیزې برخې (مسند الیه_ مسند) د څو ساده لنډو یا اوږدو ترکیبونو څخه جوړې وي.

د احمد شاه بابا د ښوونځي زده کوونکو په کلنۍ آزموینه کې ښې نمرې واخیستې.

۲_ مرکبه یا غبرګه جمله: هغه جمله ده چې له دوو یا زیاتو ساده (یوستوو) جملو څخه جوړه او یوه جمله له بلې سره لفظي او معنوي اړیکې ولري، خوهره جمله خپلې ځانګړنې لري.

په پښتو ژبه کې غبرګه مرکبه جمله دا لاندې ډولونه لري:

۱_ پیوستې یا خپلواکې غبرګې جملې: هغه دي چې له دوو یا زیاتو یو ستوو متوازنو جملو څخه جوړې شوې وي او دغه جملې په نحوی توګه سره برابرې او مساوي حیثیت لري. په دغه ډول جملو کې یو ستوې جملې یو تربله کلك تابعیت نه ښیي، خو په نسبي توګه خپلواکې ګڼل کیږي، په دوو ډلو ویشلیږي:

الف_ لنډه غبرګه پیوسته جمله: چې د دواړو جملو اساسي برخې یې له لنډو ساده اسمي او فعلي ترکیبونو څخه جوړې وي . لکه: لمر راوخوت او شاوخوا رڼا شوه.

ب_ اوږده پیوسته غبرګه جمله: هغه ده چې د جملې په مسندالیه یا مسند او یا په دواړو برخو کې د جملې اجزاوې له دوونه زیات توکي ولري او په اجزاوو کې یې ډېر ښت او پراخوالی راغلی وي. لکه:

آزموینه راغله او زیاتره زده کوونکي د آزموینې له سختوالی څخه په ډار او اندیښنه کې دي.

داغبرګې جملې هم په دوه ډوله دي:

لومړی- آزاده یا پرانیستې جمله: چې له دوو، دریوو یا ډېرو جملو څخه جوړه وي، چې شمیر یې نور هم پسې زیاتیدای شي، خو دغه جملې په آزاد چوکاټ کې راځي، لکه:

کله به باران وریده، کله به واوره وریده، کله به شین شو، شین به شو. وریځ به شوه او د باران څاڅکي به شول.

یا: کله به ورو روان و، کله به تیز شو او په منډه به شو او چې سترې به شو، نو دمه به یې وکړه.

دویم- محدوده یا ټرلې او نا خپلواکه غبرګه جمله:

دا جملې معمولاً په دوو جملو ختمیږي. کله کله دري جملې هم سره رایوځای شوې وي. لکه:

باید تللی وای، خو ولاړ نه شو.

ب: د معنا له مخې د جملې ډولونه:

په پښتو ژبه کې جمله د معنا له مخې په دوو سترو ډلو بیلیږي:

۱_ خبري

۲_ ناخبري

لومړی- خبري یا بیاني جملې: هغه دي چې د یو څیز د حال او کیفیت بیان او څرګندویي کوي، یا په بله وینا: یو فکر د خبر په توګه بیانوي. په لیکنه کې ددې جملې په پای کې ټکی(.) ایښودل کیږي، لکه: احمد شاه بابا د افغانستان نومیالی واکمن تیر شوی دی. احمد کورته ولاړ.

خبري جمله په دري ډوله ده:

الف: حقیقي مثبته خبري جمله: د یوې اصلي او حقیقی پیښې بیان کوي، لکه: احمد درس ولوست.

ب_ حقیقي منفي خبري جمله: د هغه څه څرګندونه ده چې په واقعیت کې یې شته والی ثابت نه وي، په دې جملو کې د نفي ادات د کومکي فعل نه مخکې راځي، لکه: زده کوونکي درس نه لولي.

ج- هغه خبري جمله چې د يو واقعيت د تائيد ، تصديق او تاکيد له پاره وي. د (خو) ادات ورسره يو ځای راوړل کيږي، لکه: وطن خو په هر چا ګران دی.

دويم_ ناخبري يا انشايي (التزامي) جمله:

ناخبري يا انشايي جملې دا لاندې ډولونه لري:

۱_ د پوښتنې جمله: د ويونکي مطلب او موخه پوښتنه وي. په دې ډول جملو کې چې د يوه شخص، موضوع، ځای او وخت په باره کې پوښتنه کيږي، د ځواب غوښتونکې وي. په وينا کې د دې جملو ځانګړنه د غږ لوړوالی او فشاروي. او په ليک کې يې د پوښتنې نښه (؟) په پای کې ايښودل کيږي. لکه: چيرته ځې؟ څه وخت راغلی؟

۲_ امريه جمله: چې دويناوال مطلب او موخه پکې د يوه کار غوښتنه،امر،حکم، غوښتنې، هيلې. بلنې. مشورې او اخطار په بڼه وي. دا جملې هم د ويلو ځانګړی آهنګ لري،لکه: درس ولوله! راځه چې ځو!

۳_ تعجبي جمله: د حيرانتيا په حالت کې ويل کيږي يا د حيرانۍ څرګندويي کوي. دا هم پوښتنې جملې په توګه راځي. خوله هغې سره يې توپير دادی چې دا جملې ځواب نه غواړي.

لکه: څومره ښه خلك دي! څه کارونه يې ونه کړل!

۴_ تمنايي جمله: د غوښتنې او هيلې مفهوم پکې نغښتې وي. کاشکې ورشم! ارمان چې تللي وای.

۵_ شکی احتمالي جمله: چې مقصد او مطلب ثابت نه وي او شخص په دووکې حيران او دوه زړی وي. لکه: ښايي ورورېې هم ورسره راشي، ګوندې ښه کتاب وي.

۶_ ټينګاري جمله: د تاکيد او ټينګار په موخه او غرض راځي. لکه: خامخا ورځم، حتمي راشه.

۷_ قسمیه جمله: چې په یو کار باندې د خلکو د باورکولو له پاره په یو سپیځلي، لوړ، محترم شي یا ذات باندې لوړه (قسم) کول څرګندوي. لکه: خدایږو درځم.

۸_ دعائیه جمله: د خیر ښګیڼې د غوښتنو او څرګندولو له پاره ویل کیږي، لکه ځه الله دې مرستندوی شه!

(پای)

اخځليکونه:

۱ـ زيار، مجاور احمد(پوهاند، دوکتور). پښتو پښويه. دويم چاپ. دانش خپرندويه ټولنه. پيښور. ۱۳۸۲ لمريز کال.

۲ـ خويشکی، محمد صابر (پوهنوال). پښتو غږ پوهنه او وييپوهنه. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۱۳۸۰ هـ. ل.

۳ـ زرغونه، رښتين زيور (پوهندوی. ډاکټره). پښتو نحوه. دويم چاپ، د ساپې پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، ۱۳۸۲ هـ . ل.

۴ـ يمين، محمد حسين (پوهاند، دوکتور). دستور معاصر زبان پارسي- دري، ميوند نشراتي مرکز، ۱۳۷۸ هـ . ل.

۵ـ رښتين، صديق الله (پوهاند). پښتو ګرامر. يونيورستي بک ايجنسي، پيښور، ۱۳۷۲ هـ. ل.

۶ـ يمين، محمد حسين (پوهاند. دوکتور). دستور همه ګانی زبان دري(صرف و نحو)، داريك د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۱۳۸۳ هـ ل.

۷ـ پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس، دريم ټوك. د افغانستان. دعلومو اکاډمي. دژبو او ادبياتو مرکز. ۱۳۶۵ هـ .ل.

۸ـ مومند، محمد ګل. د پښتو ژبې ليار. بلخ. ۱۳۱۷ هـ . ل.

د اریک د ګرځنده کتابتونونو خپاره شوي کتابونه

۱ د افغانستان عمومي جغرافیه
۲ جغرافیای عمومی افغانستان
۳ د افغانستان تاریخی ودانی
٤ بناهای تاریخی افغانستان
٥ د افغانستان محلي خواړه
٦ ورزشهای محلی افغانستان
۷ سپینه کوتره
۸ کمان طلائی
۹ زده کړو چه ور زده کړو!
۱۰ بیاموزیم تا بیاموزانیم!
۱۱ په افغانستان کې د چاپیریال ساتنه
۱۲ حفاظت محیط زیست در افغانستان
۱۳ په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
۱٤ تربیه و تهیهٔ بزق و باغها در افغانستان
۱٥ د تمدن سوغات
۱٦ ارمغان تمدن
۱۷ زلزله در افغانستان
۱۸ په افغانستان کې زلزلې
۱۹ معیوبین و جامعه
۲۰ معیوبین او ټولنه
۲۱ د افغانستان لنډه کی تاریخ
۲۲ تاریخ فشرده افغانستان
۲۳ د چرګانو ساتنه
۲٤ مرغداری
۲٥ دنیای کودك
۲٦ د ماشوم نړۍ
۲۷ نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
۲۸ د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه
۲۹ د شاتو مچیو روزنه
۳۰ زنبور داری
۳۱ د افغانستان مشاهیر
۳۲ مشاهیر افغانستان
۳۳ د افغانستان کلك پوستې میوې
۳٤ میوه های سخت پوست افغانستان
۳٥ جغرافیای ولایات افغانستان
۳٦ د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
۳۷ تکنالوژي بایوګاز
۳۸ د بایوګاز تکنالوژي
۳۹ پرخوری یا خود خوری
٤۰ ډیر خوراکي
٤۱ بازی های عامیانه اطفال
٤۲ د ماشومانو اولسي لوبې
٤۳-٤٤ لندی ها
٤٥ رهنمای تشخیص و تداوی امراض چشم، گوش، گلو و بینی
٤٦ د سترګو، غوږ، ستوني او پزې ناروغیو د تشخیص او درملنې لارښود
٤۷ سرگرمی با تجربه های علمی
٤۸ په علمي تجربو سره وخت تیرول
٤۹ په افغانستان کې کاني زیرمې

۵۰ ذخایر معدنی افغانستان

۵۱ اساسات ماهی پروری

۵۲ د کبانو د روزلو لارښووني

۵۳ اوبه د ژوند سرچینه

۵۴ آب سرچشمه حیات

۵۵ تدبیر منزل

۵۶ د کور سمبالښت

۵۷ سبزی ها

۵۸ سابه

۵۹ د افغانستان مشاهیر (دویم توک)

۶۰ مشاهیر افغانستان (جلد دوم)

۶۱ توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان

۶۲ په افغانستان کې د باغونو د پرمختګ په هکله ګټوري لارښوني

۶۳ شاهراه های افغانستان

۶۴ د افغانستان لویې لارې

۶۵ ورزش

۶۶ ورزش (پښتو)

۶۷ تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان

۶۸ په افغانستان کې د ډله ییزو اړیکو وسایلو ...

۶۹ سیمای محیط زیست افغانستان

۷۰ د افغانستان د چاپیریال بڼه

۷۱ اقتصاد

۷۲ اقتصاد (پښتو)

۷۳ تخنیك ابتدایی رادیو

۷۴ د راډیو لومړني تخنیك

۷۵ د افغانستان مشاهیر (دریم توک)

۷۶ مشاهیر افغانستان (جلد سوم)

۷۷ دانستنی های مالداری و وترنری

۷۸ د وترنری او مالداري په هکله لاښوونې

۷۹ صنایع دستی افغانستان

۸۰ د افغانستان لاسي صنایع

۸۱ هرات در دوره تیموری ها

۸۲ هرات د تیموریانو په دوره کې

۸۳ نباتات صنعتی

۸۴ صنعتی بوټې

۸۵ جهان نما

۸۶ نړۍ ښود

۸۷ گلدسته اطفال

۸۸ د ماشومانو ګل غونچه

۸۹ آبهای تحت الارضی و معدنی افغانستان

۹۰ د افغانستان تر ځمکې لاندې او کاني اوبه

۹۱ روغه ټولنه

۹۲ جامعه صحت مند

۹۳ شهر کابل در طی قرون

۹۴ کابل ښار د پېړیو په اوږدو کې

۹۵ اطلس ولایات افغانستان

۹۶ د افغانستان د ولایتونو اطلس

۹۷ تجارت در افغانستان

۹۸ په افغانستان کې سوداګري

۹۹ سیری در امواج موسیقی

۱۰۰ د موسیقي په څپوکې

۱۰۱ کمپیوټر (پښتو)

۱۰۲ کمپیوتر (دری)

۱۰۳ باستان شناسی در افغانستان

۱۰۴ لرغون پېژندنه په افغانستان کې

۱۰۵ ادب پوهنه

۱۰۶ ادب شناسی

۱۰۷ اساسات تولید نباتات زراعتی در افغانستان
۱۰۸ په افغانستان کې د کرنیزو نباتاتو تولید
۱۰۹ افسانه ها و سرگرمی ها برای اطفال
۱۱۰ د ماشومانو لپاره کیسې او سرګرمې
۱۱۱ حیات وحش افغانستان
۱۱۲ د افغانستان وحشي ژوې
۱۱۳ محیط زیست و اقلیم افغانستان
۱۱٤ د افغانستان چاپېریال او اقلیم
۱۱۵ گوهر شاد ستاره تابناک عصر تیموریان
۱۱۶ گوهر شاد د تیموریانو په دوره کې خلانده ستوري
۱۱۷ افسانه گلها
۱۱۸ د ګلانو کیسې
۱۱۹ صحت خود را چونه وقایه نماییم؟
۱۲۰ خپل روغتیا څنګه وساتو؟
۱۲۱ جهان ما
۱۲۲ زمونږ نړۍ
۱۲۳ مشکلات مسکن در افغانستان
۱۲٤ په افغانستان کې د استوګنځي ستونزې
۱۲۵ په افغانستان کې صنایع او په ملي اقتصاد ...
۱۲۶ صنایع در افغانستان و نقش آن در اقتصاد ملی
۱۲۷ د کورنۍ ژوند لارښود
۱۲۸ رهنمای زندگی خانواده گی
۱۲۹-۱۳۰ مجموعۀ مقالات هشتمین سیمینار بین المللی کوشانیان
۱۳۱ دستور همه گانی زبان دری (صرف و نحو)

PROPERTY OF ACKU 12087